کابل

ادبي، تاریخي او اجتماعي

Feb. mach 62

2 - JUN 22
Copy ____ 1962

د پښتو ټولنې میاشتنۍ

خپرونه

۱۲

پرله‌پسې ګڼه ۵۰۹

پښتو

کب (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ق) کال د ۱۹٦۲ کال فروری او مارچ

امتیاز: د پښتو ټولنې

د پښتو ټولنې مشر: گل پاچا الفت

مسؤول مدیر: محمد صدیق روهی

مهتمم: محمد مومن پټوال

لیك	لیکوال	مخ
دملنگ جان پرمزار	الفت	۱
د پښتو تحلیلی قوت	حبیبی	٦
دام ـ چدام ـ دمړی	عبدالشکور رشاد	۱۰
پښتو تصفیه غواړی	ق ـ خادم	۱۷
هغه کړ اوو نه . . .	قدرت الله حداد	۲٦
د پښتو د آسمان ستوری	ننگ یوسفزی	۳۰
د روسو طلائی عصر	علی محمد زهما	۳۵
سبك	روهی	۳۹
سوالگر	دافق ترجمه	٤۳
په هند کښې . . .	دواسعی ترجمه	٤۵
د روسی ژبې لنډ . . .	الفت	۵۲
اشعار	د ځینو شاعرانو	۵٤

دملنگ جان پر مزار

دښاغلی الفت وینا

څه موده مخکښې دپښتو ولسی شاعر ملنګ جان په ویاړ دپښتو ټولنې له خوا دحجار ی او نجاری په فابریکه کښې دوطن له ښکلو ډبرونه قبر جوړ شوی و، کله چه دغه ښکلې ډبرې دده پرمزار ولګول شوې نو په همدغه مناسبت په ننګر هار کښې دملنګ جان پر قبر لویه غونډه وشوه چه ډېر ادب پالو نکی کسان ورته راټول شوی وو، په دې وخت کښې ښاغلی الفت دپښتو ټولنې رئیس وینا وکړه چه متن یې دمجلې ګرانو لوستو نکو ته وړاندې کوو. (اداره)

درنو ښاغلو !

مونږ اوتاسې دلته دملنګ جان دیا دونې په غرض دده په قبر راغونډیو او په دغه وسیله دیوه ملی او قومی شاعر دادبی او اجتماعی خدمت قدر کوو.

ملنګ جان د ۱۳۳۶ دعقرب په لسمه ځوا نیمرګ شو او پخپل دردناك مرګ یې ډېر خلق غمجن او خوا شینی کړه.

مرګ حق دی هر څوك مری او یوا زې پاك خدای تل تر تله باقی دی هر څه چه له دې خاورو پیدا کیږی هغه بېرته دې خاورو ته ورځی او خاورې کیږی مګر مرګو نه ټول یو رازنه دی او په غمونو کښې هم لوی او واړه شته.

دچا په مرګ یوازې دهغه کور او کلی خبریږی او دچا دمرګ آوازه لرې هېوادو ته رسیږی. دملنګ جان مرګ هم ولسو نه او هېوادو نه په ځان خبر کړه او دډېرو خلقو دپاره دغم او ماتم موجب وګرزیده.

دده دمړینې دخبر په اورېد وډېرو کسانو دخپل تاثر او خپګان لیکونه او پیغامونه کابل راډیو ته راواستول چه له هغې جملې څخه د اختصار په مراعات یوازې دښاغلی صدر اعظم سردار محمد داؤد لیك تاسو ته اوروم او هغه دادی :

دکابل راډیو ریاست ته

دپښتوژبې دملی شاعر ملنګ جان په مرګ ډېر خواشینی شوم.

دغه له درده ډک وطن پرست شاعر مې له ډېرو کلو راهیسې پېژانده او دده له لوړو احساساتو چه دګران هېواد او افغانی وګړو دسعادت او لوړتیا په نسبت یې لرل پوره خبروم.

دده مرګ په رښتیا سترزیان دی. دی نن نشته خو دده افکار او اشعار چه دقام و یښولو او قومی خدمت په لاره کښی ئې پریښې دی تل به ژوندی وی.

باور لرم چه افغانی نسل به خپل دغه ملی شاعر نه هېروی.

لوی خدای دې مرحوم ملنګ جان وبښی، زه په دغه وسیله دمرحوم ملنګ جان خپلوانو او دوستانو ته تسلی ورکوم.

لکه چه ښاغلی والاحضرت دوطن ددغه قومی شاعر په مړینه خپله خواشینی ښکاره کړه دافغانستان او پښتونستان ځینو نور و مهمو او پوهو کیسانو هم لکه ښاغلی رښتیا - پژواک استاد خلیلی - استاد بیتاب - ایوبخان اڅکزی - حمزه شینواری - ماستر عبدالکریم - حکیم اسلم سنجری - سیال - رشتین - سلیمی - شفیق غمخور - ننګرهاری - قارپزاده ما او نورو خپل تأثرات ولیکل چه ښاغلی سلیمی صاحب په اهتمام په کابل راډیو کښې نشر شوه او بیا هغه ټول دیوې رسالې په ډول دملنګ جان په نامه چاپ شوه.

ملنګ جان په ظاهره دیوې غریبې کورنۍ سړی وچه نه یې کومه برجوره کلا درلوده نه ځمکې او باغونه - نه یې کومه رسمی رتبه لرله او نه کوم لوی سوداګر وچه دپیسو په زور ځان په خلقو وپېژنی مګر هغه نوم او شهرت چه دده په برخه شو ډېر دجاه وجلال خاوندان ترېنه بې نصیبه دی.

ملنګ جان ملنګ و مګر دپیسو او ډوډۍ ملنګ نه واوغوښتنې یې ډېرې لویې اولوړې وې ځکه ئې ویل:

چم په چم ګرزم درویز ګریمه زه
خدایه دخوږ زړګی درمان لټوم
کچکول په غاړه قلندریمه زه
آزاد ژوند ون بلند نشان لټوم

***

ملنګ جان دلیک اولوست په لحاظ بې علمه او بېسواده ومګر دفکر او خیال په عالم کښې دښې برخې خاوند واو داشعارو دیوان ئې دسواد خاوندانو دپاره دپوهې او بصیرت دفتر دی.

ملنګ جان د ملی او اجتماعی ژوند او دآزادۍ په مفهوم ډېر ښه پوه شوی واو په دې هم

پو هېده چه دی ولې له عمله محروم پاتې دی اودغه مسئولیت چاته عاید دی ځکه وائی؛

داسې چه محروم له علمه زه ملنګ جان پاتې شوم

لاس به په قیامت کښی وی زما دچاګریوان سره

✲✲✲

ملنګ جان دخپل محیط او دخپلو خلقو دحال ډېر ښه ترجمان واوپخپلو اشعارو کښې ئې اجتماعی ژوند ډېر ښه تمثیل کړی دی دمثال په ډول ئې دادوه بیته واوریء :

دسروزرورشه باندې ولاړیم په نس وږی

دځانه مر وریم

دسیند په غاړه ناست یم په ارمان داو بوتږی

په دی چه بی هنر یم

څه دپا سه څلور کاله کیږی چه ملنګ جان مړشوی مګر داسې شپه یا ورځ به نه وی چه دده نوم په کابل راډیو یا بزم او خوښی په مجالسو کښې یادنشی او کوم شعر یې په ساز اوسرود کښې وانورو .

په همدغه وجه ویلی شو چه مو نږ ملنګ جان هېڅکله نه هېر وو او دده یا د دافغانی موزیك اوسازوسرودجزء ګرزېدلی دی

دده خوږې نغمې زمونږ په خو ښیو او خوشحالیو کښې ستره برخه لری او ز مو نږ دښادیو ورځې دده په سندرو سراوتال، نشاط اوسرور پیدا کوی .

ملنګ جان هم په دې پو هېده چه مو نږ دی نشو هېرولی ځکه یې ویل:

کوم سرمایه دار چېرې یاد شوی دپیسو په نوم

یاددی ترقیامت په نارینتوب که یوملنګ لاړشی

مینی دوطن سره

✲ ✲ ✲

ملنګ جان، په رښتیا له خپل وطن اوخپلې خاورې سره ډېره مینه درلوده او خلق بې دخپلې خاورې خدمت ته په دی ډول رابلل:

کوم نعمت دی په دنیا کښې چه یې بیخ نه وی دخاورې

که نعمت غواړې عاقله نو دخاورې خدمتګار شه

✲ ✲ ✲

ملنګ جان دشعر په ژبه دپښتنی ننګ او غیرت حق ډېر ښه په ځای کړی او دپښتونستان په ملی مجادله کښې یې دفکر او احساس په راویښو لوډېر لوی خدمت کړی دی .

دپښتونستان له جوړېدو سره دده عشق اومینه له دې دوو بیتو څخه په ډېر ښه شان څرګندیږی :

خاونده! ستالویې خدایی نه لوی احسان غواړمه
حنت به ګورو خواول پښتونستان غواړمه

✲ ✲ ✲

هرڅه نه به تېرشم خوایمان نه تېر ېدی نشم
زه لکه ایمان پښتونستان نه تېر ېدی نشم

✲ ✲ ✲

که مونږ دملیت دجذبې دراویښولو په لحاظ دده اشعارو ته و ګورو داسړی په افغانی او پښتنی جامعه ډېرحق لری .

دده په اشعارو کښې دوطن مینه - دپښتون او پښتونولی مینه غور ځنګو نه وهی اود اجتماعی اصلاحاتو په لحاظ هم دده انتقادی اشعار داعتناء اوتوجه وړ دی . ملنګ جان په تعلیمی لحاظ علمی پوهه نه درلوده مګر پوهان اودعلم خاوندان ورته په ښه حق قایل دی اوډېر قدر ئې کوی .

دده فوق العاده توب له همدې څخه معلومیږی چه بې مدرسې اوبې مکتبه بلکه بېسوا ده له هغو کسانو څخه و ګڼل سو چه دپوهنې وزارت اوپښتو ټولنه ئې نمانځنه لازمه ګڼی اوپس له مړینې ورته دده دادبی اواجتماعی خدمت په وجه دحجارې اونجا رۍ فابریکه کښې د وطن له ښکلو او قیمتی ګټو څخه دغسې ښایسته قبرجوړوی اود یادونې مراسم ئې په ځای کوی .

زمونږ داغونډه دهمدې دپاره ده چه دشعراو ادب قدردانی وکړواود ننګرهار ادب پالونکی اوشعر روزونکی خاورې ته په درانه نظر وګورو .

ننګرهار په هر وخت کښې دپوهې اوادب دتوری او کار سړی پیدا کړی اوروزلی دی. هوښیاری - بیداری او دینداری په دې خاوره کښې اغزل شوې او عشق ومحبت دلته هر وخت غزونی کړی دی .

ننګرهار هغه ځای دی چه هم ئې په حجرو اودېرو کښې ټوله شپه سازونه او سرودونه غږېدلی اوهم ئې په مساجدو کښې ټوله شپه ذکرونه اوعبادتونه شوی اوددغو دواړوخونو ډیوې یې ترسهاره بلې پاتی شوې دی .

دلته له عبادت سره ذوق اوسرور ملګری شوی اوتوریالی دینداری ترې پیداشوې ده . په

دې مساعد محیط کښې ډېر نومیالی تیر شوی
چه اوس ئې قبرونه په هدیرو کښې ورك غوندې
دی او موږ ته په کاردی چه د هغوی په قبرونو
څلی ودرو واوودانی پرې جوړې کړو .

په همدغه وجه زه دیوه ننګرهاری په حیث
دحکومت دغه قدردانی چه دملنګ جان دقبر
جوړولو په باب ئې کړې ده دننګرهار دخلقو
دخوښی او تشکر وړ بولم او په ښه نظر ورته
ګورم . دشعر او ادب دغه راز قدردانی زمونږ
دګران ټولواك دادب پرور ی او هنر دوستی
ښه ده او همدا رنګه په دې کار کښې دننګرهار
دنایب الحکومګی مرسته او مساعدت هم دستاینې
وړ بولم. چه دلته ئې په بهسودو کښې دملنګ جان
پرمزار وینو او دا یادګار به تر ډېره و خته باقی
وی. په اخره کښې دملنګ جان دپاره له لوی
خدای څخه رحم او مغفرت غواړم او خپله وینا
دده په دې شعر ختموم:

مینې دې ستی کړ م را غلې په ا یرو
اوس مې په ایرو کښې لاس وهه چه با دمې
وړینه ستا دمخ پټنګ وم



عبدالحی حبیبی

د پښتو تحلیلی قوت

ګو ئټې د المان نامتو شاعر او پوها ند ویلی وه :

« دیوې ژبې قوت او استحکام د بېګا نه کلماتو په نه منلو کې ندیء، بلکه هغهژبه غښتلې ده، چې دنورو ژبو کلمات هضم کړای سی، او هغه د خپلو آهنګوسره سمولای سی.»

د ژبو کلمات او الفاظ یوله بله هروخت سره نقلیږی، لکه د بشری ژوندون اجتماعی دودونه چې له یوې ټولنې څخه بلې ټو لنې ته ځی، او په مدنی حوا دثو کې یوه جامعه د بلې جامعې رنګ منی ، دعسې هم ژبې یو له بله اغیزې سره کوی. او پردنیا یوه سوچه او خالصه ژبه په زحمت موندله کیږی.

د ژبو کلمات هم لکه پخپله انسانان دسیر او مهاجرت ،نشو او ارتقاء، مدوجزر مراتب لری، کله دیوې ژبې کلمات دانسانانو سره یو ځای بلې جا معې ته هجرت و کړی. او چې په نوی محیط کې هرڅونې ډېره هستو ګه و کړی، نو هلته د نوی تابعیت حقوق ومومی ، او په هغه ژبه کې دیوه اصیل عضو او فرد په ډول قبول شی، چې بیا نو پردی نه ګڼل کیږی.

ځینې ژبې په ځان کې تحلیلی قوت نلری، پردی کلمات کټ مټ اخلی، او هغه په خپله اصلی بڼه استعمالوی ، مګر ځینې ژبې داسې هم سته ، چې په ځان کې یوډېر غښتلی تحلیلی قوت لری ، او هر کله چې د پردی ژبې څخه کوم کلمات واخلی، داسې کالی او تر خځې په واغوندی ، چې بالکل ئې رنګ او معنی او مفهوم ورالیش کی، او بیا نو نه پیژ ندل کیږی ، چې دا کلمه له کومه راغله، او د هغې اصلی جوله څنګه وه؟

ز موږ پښتو په آریائی ژبو کې هغهژبه ده، چې دغه قوت په خورا لوړه درجه پکښې دیء، او اکثر خارجی کلمات په ځان کې داسې تحلیل کوی ، چې رنګ او شکل او معنی ئې با لکل د پښتو خپل خا صیتونه مومی، او هغه وخت نو موږ د پښتو د خپل کلمات بالکل په پښتنی بڼه کې و ینو ، او هغوته دنوی تابعیت حقوق داسې ور کوو ، لکه پخپله پښتو کلماتو ته !

په پښتو کې تحلیل او سهل ډېر انو اع او اشکال لری، چې لاندې ئې دمثالوسره اوړو :

۱ـ لفظی مفغنات: چې د پښتو د تفغین تر اصولو لاندې راغلی او ظاهری شکل ئې اوښتی وی. خو معنی ئې هم هغه وی، لکه یه هابلهڅ به کې چې ده.

مثلاً دعربی قمیص په هم دغه معنی په پښتو کې کمیس او داسې مقبول شو، چې او س موږ د پښتو هغه اصلی نوم د دې شی لپاره نه پېژنو او نه ئې استعمالوو، خت خو په پښتو هم دغه کمیس دیء، او دا کلمه اصلی او سوچه پښتو ده، مگرله عربی څخه مفغن کمیس راغیء، او دااصیل او نجیب نوم ئې داسې وشاړه، چې اوس موږ هغه خپل پښتو خت نه پېژنو، او پر ځای ئې هرځای د خپل کمیس ناست وی.

په کندهار کې ځینې کلی وال سپب (سپو) بولی، او دا هم یو قسم لفظی تفغین دیء، په اصلی پښتو کې خو ددې مېوې لپاره خپل پښتو اصیل نوم شته (مڼه) مگر هلته دا خپله کلمه داسې مترو کهشوې ده، چې اکثر خلق ئې نه پېژنی، او پر ځای ئې (سپو) ولاړ دیء، چې جمع ئې سپوان وائی.

۲ـ معنوی مفغنات:

ځینی کلمات چې له نوروژبو څخه پښتو ته راغلی دی، خپل ظاهری شکل ا بهه خوئې خوندی کړې ده، مگر دپښتو تحلیلی قوت په هغو کې معنوی اغېزه کړې ده، او د ظاهر پر ځای ئې معنی وراړولې ده، چې موږ ئې معنوی مفغن بللای شو.

په فارسی «پای» پښه ده، خو دا کلمه چې پښتو ته راغله، ظاهری شکل ئې پر خپل حال پاته شو، مگر یو قسم معنوی تغییر ور پېښ شو، چې معنی یې «آخر» او د هرشی وروستنی برخه شوه، مثلا: د بازار په پای کې زما دوکان دیء. دلته موږ نشوای ویلای چې «درپای بازار دوکان منست»

دغسې هم «کتاب مې تر پایه ووایه» چې معنی ئې په فارسی کې داسې نده: «کتاب راتا پای خواندم».

۳ـ معنوی او لفظی مفغنات: دریم ډول داسې کلمات هم لرو، چې پښتوله نورو ژبو څخه واخیسته، خوظاهری شکل ئې هم ور واړاوه، اومعنی ئې هم ور بدله کړه.

په پښتو (ایسار) او د (ایسار بدل) او نورو ټول مشتقات ئې له دې دریم قسمه څخه دی، په عربی (حصار) کلا او کوټو، خو پښتودا کلمه له خپلې تحلیلی ژرندې لاندې کړه او (ایسار) ئې را ویستله، خو په دغه ئې سو ده

ونشوه معنی ئې هم وروا ړوله ،یعنې معطلی اوتأخیر اوتوقف .

دحالت او ترکیب تحلیلی قوت: دپښتو دتصرف اوتحلیل لوړا قسام خـود کلماتو په اصلی شکل او معنی پورې اړه لری،مگر یو بل ډول تحلیلی قوت هم په دې ژبه کې سته چې د کلماتو په حالت او ترکیبی کیفیت پـورې اړه پیـدا کوی یعنې ، دحالت په لحاظ کـله د کلمې شکل واړ وی، اویایوه لاحقه پورې و نښلی چې دپښتو دجـری یـا اضافی حروفویانو ر و عواملو په دخول داصلی کلمې شکل تبدیل سی .

مثلاً (زه له دو کانه راغلم) دلته د کا ن عربی کلمه ده،خو(له) دپښتو عامل پرداخل شو،نوئې شکل (د کانه) شو، حال داچې هم دغه کلمه په خپله اصلی بڼه په دې جمله پا ته ده(زما د کان په بازار کې دیء) .

(پت نوس) دچایو دلوښو دا پښوولو ظرف دی، دا کلمه به ښائی له روسی څخه راغلې وی، خو موږ ئی اوس په عام ډول پخپلـو خبـرو کـې استعمالوؤ،(پت نوس) راواخله،پت نوس یوسه!! مگر کوم وخت چې په تر کیب کې د پښـتو تحلیلی سوټك پرونښلی نووایو : دپت نـاسه لاستی مات سو،یا: له پت ناسه ئې راواخله !

دلته (د-له) داغریبه کلمه په بله بڼه واړ وله، اویوو اول ئې په بل تبدیل سو،په پای کې هم یوه(ه) دماقبل حرکت دښکا ره کو لولپـاره پورې و نښته .

(رود) هم داسې کلمه ده چې ظاهراً له فارسی څخه راغلې ، ځکه چې په پښتو (سین = میند) ددې مفهوم لپاره قدیمه او تاریخی کلمه شته او اومستعمله ده .مگر (رود) چې پښتو وا خیست په ځینو جملو اوحالاتو کې په خپل اصلی شکل **او پر تاگه کې پاته سی** : رود بهیږی . رود وچ شو.مگر په بل حا لت کې دغه کلمه نـورې ترخځې پیدا کی،مثلا وایو : دا لر گی راده راوړی دیء. پلانی سړی په راده کې مړ سو .

کله کله په دخیلو کلما تو پو ر ې ځینې پنډ کی ونښلی،اودپښتو په تحلیلی ژر نده کې دل سی.مثلا کتابچه ، کتب ،قلـم ، اسمـان ، قرآن،فرشته،باغچه که په پښتو تر کیب کې استعمال سی. نو به ئې شکلو نه داسې واوړی :

د کتابچې منځ دعربی کتبو پاڼې-دقلمو لیك- له اسمانه باران اوری- له قرآنه آیتو نه لو لی- فرشتې غوندې سړی دی- باغچې له راسه- باغچو له به ځو-او نور . . . .

دپښتو دا تحلیلی او اړوو نکی قوت لکه فارسی،عربی اوهندی کلماتو ته چې متوجه و ،

دغسې هم اوس ارو پائی نوورا غلو مېلمنو ته جوغېدلی ء دی ء. اولږلږ ئې اصلي شکلو نه او څېرې وراړوی ، او پخپل رنګ ئې رنګو ی مثلا (سټیشن) انګریزی کلمه ئې پخپل قوت (ټېسن) کړه او کوم وخت چې په لومړی جنګ ۱۸٤۰م پرنګیان افغانستان ته راغله، نوددوی (لارډ) دلته (لاټ) سو، اوله دغه څخه د (لا ټی) خاصه اصطلاح وزېږېده، یعنې دپرنګی دو لت یاانګلو فیل .

دغسې هم له عربی (حج) څخه (حا جی) په نوی شکل راووت، اودا کلمه دعربی ګرامر پراصولو نده جوړه سو ې ، خوپښتو دا پخپل ذوق مؤنثه هم کړه ، حا جهـه ، حجیا ڼی (اجڼه = اجاڼی) ئې هم پخپله ژبه کې و منله چې دبیت الله زایره ښځه ده .

پردغو اصولو ئې له هندو څخه هندواڼی = هندوه هم جوړه کړه. و ګوری ء :اجاڼی خو له عربستانه اود غرب له خواراغلې وه ، مګـر هندواڼی چې له هندوستانه اوشرقه راغله، هم دژبې تردې حکم لاندې سوه. اواوس چې له اروپا یا امریکا څخه دتوې ماشینی دنیا کلمات راځی، دلته ئې څټ دپښتو لسانی احکا مو ته ضرور کوږوی، اوزموږموټروانان او کلینران دامظلوم اومحکوم کلما ت پخپله ژ به کې داسې سره اړوی رااړوی، چې دژبنیو څېړونکو لپاره، دتحقیق او پلټنې وړ ګرزېدلای سی

ښاغلی عبدالشکور رشاد

لغوی څېړنه :

دام ـ چدام ـ دمړی

ځوورځې دمخه په یوه ځای کښې دپښتو دپخوانی ادب په باب څېړنې کېدلې ـ چا د ماشو خیل حمید دا بیت د تحلیل له پاره وړاندې کړ :

بې شبهې مارو لړم دی نور څه نه دی

را پیرد لی په ستم دام و درم

(دحمید دیوان ـ۸۲ مخ د کابل چاپ)

چه مخ مې راوګرزاوه و ملګری بیاد دام کلمې په دام کښې نښتی و ـ اوتر څو چه یې د دام زړه (الف) هیسته و نه غور ځاوه او (د م) یې ځنې جوړنه کړ دخلاصون لاریې ونه موندله .

د دې له پاره چه نور څوك په د ې دام کښې ونه نښلی داوړبولم چه ددغه لغت په باب دخپلو معلوماتو نتیجه د پښتو ا د ب ښا غلو مطا لعه کوونکوته وړا ندې کړم :

دام :

دا لغت په (پښتو) شر قی ار یا یی ژ بو کښې په دغوشپږومعنا وولیدل شوی دی :

لومړی: په سنسکریت کښې دلیندې ژی (زه) او رسی (وا ښ) ته ویل کېده (۱) .

دوهم: په پاړ سواو پښتو کښې اوس هر هغه څه ته وایی چه ژ وی په نیول کیږی (۲). په پښتو کښې د تا نستې ددوولا یومنځ ته چه له جال او تور سر ه مشابهت لر ی هم د ام وایه شی . (۳) او په د ې معنا و و کښې یې له لو مړ ی معنا سره یوراز مجا ز ی نسبت ښکاری.دچل وچم (حیله وفریب) یادنیاوی زخار فوپه معنی سره د دام کلمې ا ستعمال بیادوهمې معنی ته یـو راز مجا ز ی نسبت لر ی .

دریم: ـ په پاړسو کښې نه څیروونکی ژوی ته وایه سی لکه هوسی ـ غرڅه .....

دفر هنګ نظام مؤ لف زیاته کړېد ه چه په پهلوی ژبه کښې یې دمفهوم غولی تر پاړسو

(۱) دلیل ساطع ۲۲٤ مخ. فرهنګ نظام ۳ ټوك ۱۵ مخ .

(۲) در دام محبت منم آن مرغ ا سیر
کزشعلهٔ آمن قفس می سوزد
(جلا ل ا سیر)

زمازړه دتورو زلفو همسایه شو
داآزاد توتی مې ترکوپه دام و بیو
(پیرمحمد کاکړ)

(۳) ـ پښتو قاموس ٤٦٥ـ٤٦٦ مخونه .

ارت واو د مطلق سا کښې معنایې لرله (٤).

څلرم: په هندی کښې بیې او قیمت ته ویل کیږی - په دې هندی متل کښې یې دا معنا څرګنده ده: «آم کې آم - ګټه لی کې دام» (٥).

پنځم: پخوا په هند و ستان کښې د تول یو معیار و چه تقریباً د دوو سوو دا نوور یجو تول یې در لود - شیخ ابو الفضل علا می (۱۰۱۱ هـ ق مړ) کښلی د ی:

«په هندوستان کښې سیر (چه د تو ل یو معیار دی) کله اتلس دامه او کله دوه ویشت باب و د جلال الدین ا کبر (۹٦۳-۱۰۱٤ هـ ق) پا چهی په شروع کښې یو سپرا ته و یشت دامه و او اوس (۱۰۰٥ هـ ق) دیر ش د امه دی - هر دام پنځه ټانکه - هر ټانک څلو ر سرخه او هر سرخ لس وریجې دی - پخوا یې دمرجان او کافور و په تول کښې دام پنځه نیم ټانکه شمیره مګر اوس په دغوا جناسو کښې هم پنځه ټا نکه یو دام شمیرل کیږ ی (٦).

مولوی محمد غیاث الدین را مپو ری په خپل اثر غیاث اللغات (د ۱۲٤۲ هـ ق تا لیف) کښې زیاته کړیده: «د ام چه د تول د یوه معیا رپه حیث عموماً دواوو کښې استعما لیږ ی دوه رازه دی- یویې اوم دی چه د ولس ماشې او بل یې پوخ دی چه ځینی یې ا تلس او ځینی یې یو ویشت ماشې ګڼی» (۱)

شمس العلما ء ذکأ الله دهلو ی د خپل مهم اثر تار یخ هند و ستا ن په لسم ټوک او سید احمد د آئین ا کبری د لومړی ټوک ۱۲۲ مخ په شرحه کښې یوه ماشه د پنځلسو ګر ینو سره برا بره بللې ده- چه په د ې حسا ب نو یو پو خ یو ویشت ماشه ئیزدام ۳۱٥ ګر ینه کیږ ی چه زموږ د ملک په روج وزن باید در ې مثقا له اوشپږ نخوده تخمین شی.

شپږم: په پښتو او هندی کښې دیوې مسی سکې نوم دی چه د غه مفهوم او د څلور مې و پنځمې معناوو ترمنځ مجازی تعلق سته- د ماشو خیل حمید په ذکر شوی بیت کښې (دام) د (درم) معطوف علیه واقع شوی دی او په عر بی کښې د درهم (= درم) تر ټولو مشهو ره او متد او له مسمی د سپینو زرو یوه ګردی سکه ده چه د رې نیمی ماشې یاد تحفة المؤمنین په قول اته څلویښت

(٤)- فرهنګ نظام ۳ ټوک ۱٥ مخ.

(٥) - ار دو سکول د کشنر ی ۱٥۱ مخ - دلیل- اطع ۲۲٤ مخ - خزینة الامثال ۳۸ مخ.

(٦) ائین اکبری ۳ ټوک ٤۷ مخ.

(۱) غیاث اللغات ۲۰۳ مخ د فر هنګ آنند ر اج

(۲) ټو ک ٤۱ مخ

اوربشپ تول لری (۱).

عربان وایی: (الدرهم جنة العقلاء) درهمونه دهوښیارانو سپردی (یا) (دالد راهم با لد راهم تکسب) درهمونه په در همو نو ګټل کیږ ی داخر ګنده خبره ده چه په یو ه حکم کښې دشاملید لوله پاره د معطو ف ا و معطو ف علیه ترمنځ دصفتو نو څه اشتر اك لا زم دی ځکه نولازمه ده چه په پور تنی بیت کښې د(دام)له کلمې څخه د(درم) په څیر دیوې سکې معناوا خستله شی دا کلمه په دغه معنا سر ه په پښتوادب کښې نورځایونه هم استعمال شوی ده شمس الد ین کا کړ ویلی دی:

زه ماهی غوندې داغونه دافلاس کړم
تاد د ام ودر م خا وند قیا س کړ م

(شمس الدین دیوان -۷۷مخ د کا بل چاپ)

احمدین طالب ویلی دی:

احمدینه چه پنځه ورته پنځو س و ی
دهغه له ما له د ام و چد ام ده خو ر ه

(د احمدالدین دیوان ۳۹مخ)

(۲) درهم په تول کښې د یوه معیا ر په تو ګه هم استعالیبزی دا معیار دری نیمې ماشی درندوالی لری او چه درهم کله په سطو حو کښې استعمال شی بیا د هغومره اوبو قدر سطحه ځنی مر اد ده چه په یوه میانه ارغوی کښې دریدلای شی- مګر دادواړه معناوی دسکې مفهوم ته یومجازی نسبت لری د امیرا لمؤ منین حضرت عمر «رض» تر زمانی پخوادخرماددانی په شکل ؤدده په خلافت کښې گردی کړه شو.

نوموړی ما شو خیل ویلی دی:

د ستم په دا م درم مه هو سیږ ه
مګر ه خدای مارولړم دچا همدم

(دحمید دیوان ۸۲مخ د کابل چاپ)

دام دسکې په معنی:

د The coins of India په ۹۰مخ کښې لیکلی دی:

«د هندوستان په پاچها نو کښې نر ټولو د مخه (پښتانه ستر ټولواك سلطان العادل) شیر شاه سوری رمسو یوه سکه را وایستله چه ۳۳۰ ګرینه یې تول و - داسکه دام Dam بلله کېدله» ټامسن ایډ ورډ ددغه شیر شاهی مسی سکې (دا م) تو ل ۳۲۹ ګر ینه ضبط کړ ی د ی (۱) د The Coins of India په ۹۳ مخ کښې لیکلی دی چه: «د مغلو پاچاهانو دمسی سکو بنسټ دشیرشاه سوری (دام) دی چه له ۳۲۰ ګرینه څخه تر ۳۳۰ ګر ینو پو رې یې درند وا لی در لود او د (دام Dam) نوم دجلال الدین ا کبر (۹٦۳- ع ۱۰۱ هـ ق) پر یوه نیم دامی باندې چه په سر ینګر کښې ضرب شوی ؤ لیدل شوی دی - داورنګزیب دپاچاهی تر پنځم کال (۱۰۷۲ هـ ق) وروسته ځکه چه د مسو بیه لوړه شوې وه نو ددام یا فلوس وزن ۲۲۰ ګرینه ته را کښته شو او

(۱) - تار یخ هندو ستان ۱۰ ټوك ۲۸ مخ.

دغه دام بیا په وروستیو پېړیو کښې دجنوبی هندوستان دسکو له پاره یو معیار Standard وټاکه شو .» ابوالفضل علامی دآئین اکبری د لومړی ټوك په اتلسم مخ کښې د اکبر (۹٦۳-۱۰۱٤ هـ ق) په سکو کښې د دام دروندوالی یوه توله اته ماشې او سرخه (= رتی) ضبط کړیدی او دا یې هم زیاته کړیده چه پخوا ددام نوم (پیسه) ؤاو بهلولی (چه پښتانه ټولواك سلطان بهلول لودی (۸۵۵-۸۹٤ هـ ق) ته منسوب ده) هم بلله کېد له ، مګر اوس دام بلل کیږی .

دآئین اکبری شارح سید احمد دلومړی ټوك د ۱۸ مخ دضمیمې په څلرمه صفحه کښې ددام دغه تول چه ابوالفضل ضبط کړیدی ۱۱۳٫۱۲۵ ګرینو سره برابر بللی دی - نومړی شارح ددغه مخ په ۲۵ لمبر کښې ددام یو تصویر چه په ۹۸۷ هـ ق کال په ډهلی کښې ضرب شوی دی هم کښلی دی .

سربېره پردې جهانګیر مغل (۱۰۱٤-۱۰۳۷ هـ ق) پخپل تزك کښې لیکلی دی چه د (رهتاسی) کلا دشیرخان پښتانه (شیر شاه) له ودانیه څخه ده، زوی یې سلیم شاه بشپړه کړه - ددې کلا خرڅ شپاړس کروړه اولس لکه دامه شوی دی (۲) .

دپښتو تاریخ هندوستان د لومړی ټوك په ٦۱۷ مخ کښې چه درهتاس په باب څه ویل شوی دی هلته ددغې پښتنې سکې نوم (درم) کښل شوی دی چه یو څرګند تسامح دی .

لاهوری عبدالحمید په پادشاه نامه کښې ویلی دی :

«مقرر گشت که پس ازانجام مهم وحصول فیروزی سوای چهل کرور دام سابق که سی وهشت کرور طلب منصب سی هزاری ذات و بیست هزارسوار دواسپه وسه اسپه بود ودو کرور انعام -ده کروردام دیگراز محال دکن بجلد وی فتح تعین گردد که مجموعه پنجاه کروردام بوده باشد (۳) »

په تاریخ مظفری کښې چه دمحمدشاه مغل (۱۱۳۱-۱۱٦۱ هـ ق) دپاچاهی عائدات درج دی دهرې صوبې مالیې په (دام) سره بنو ول شوې دی مثلاً «شاه جهان اباد (دهلی) چه ۲۸۵ پر ګنې ؤ ۲٦۹ / ۳۹۸/ ۱٦۸ / ۱ دامه عایدات یې در لوده » .

د تاریخ هندوستان د نهم ټوك په ۱۸۷ مخ کښې لیکلی دی :

«اعتماد الدوله ته اته زوی منصب اویو کروړو پنځوس لکه دامه انعام او وزارت وروسپاره شو »

(۲) منتخبات تزك جهانګیری ۱۵ مخ د لاهور چاپ .

(۳)-دوهم ټوك ۱۹۱ مخ. (٤) خزینة الامثال ۳۹ مخ

په دغو تیرو اقتباسونو کښې تاسی ولوستل چه دام Dam یو مسی سکه وه چه پښتانه ستر ټولواک شیرشاه سوری راایستلې او دمغلو دپاچهی په دوره کښې هم ددوولسمې هجری پېړۍ تر اواسطو پورې چلېدله ، ددې سکې نوم تر اوسه پورې لاپه هندی متلو نو کښې پاته دی مثلا ویل کیږی (اپنا دام کهو نټا پر کهنې والې کو کیا دوش) یعنې خپل دام دې کلپ کوټه دیء د کره کوونکی یې څه ګناه (٤) .

ددام دارزښت په باب د آئین اکبری دلومړی ټوک په ۲۱۲ مخ کښې سید احمد نومی شارح لیکلی دی :

دائین اکبری مؤلف ابوالفضل علامی دصوبو دحاصلاتو اندازه په دام سره ښوولې ده دام دا کبر (۹٦۳-۱۰۱٤هق) په زمانه کښې چلیدی اوس یې خلك نه پیژنی اوغوږونه ورسره نابلده دی ددام ارزښت په اوسنی هندوستانی انګریزی کلداره روپی (چه ۱۸۰ ګرینه یا ۱۲ ماشې دروند والی لری) داسې دی:

«پنځه دامه له دو وآنو سره برابر دی (۱) او څلویښت دامه یوه روپی کیږی» د فرهنګ نفیسی په ۱٤٥۳ مخ کښې چه یو دام د روپی له څلورمې سره برابر ګڼل شوی دی د تأمل وړ خبره ده ولې چه د آئین اکبری په متن کښې دام د روپی څلویښتمه برخه ضبط ده (۲) او سربېره پر دې په غیاث اللغات کښې هم دام د روپی څلویښتمه او دفلوس پنځه ویشتمه برخه بللې شوې ده (۳) محمد مهدی واصف بیاله فلوس سره د دام معادله څه کمه منی او د فلوس څلیر یشتمه برخه دام بولی (٤)

دام دیوې سکی په حیث خپل اضعاف او اجزاء هم درلودل په اضعافو کښې یې چدام، روانی او په اجزاؤ کښې یې نیم دامی، جیتل، دمړادمړی او رائج لیدل شوی دی چه دا دی هر یو بیل بیل سپړل کیږی :

چدام :

خوشال خان ویلی دی:

ښه سر دار و ته دنوم خزانه بویه
که نور هیڅ ورڅخه نه دی بې چدامه

(دخوشال کلیات ٦۲۸ مخ د کندهار چاپ)

احمدین طالب ویلی دی :

احمد ینه چه پنځه ور ته پنځوس وی
د هغه له ما له دام و چدام مه خوره

(۱) د کلداری روپی شپاړسمه برخه آنه بلله کېدله

(۲)- آئین اکبری اټوک ۱۸ مخ.

[۳] غیاث اللغات ۲۰۳ مخ.

(٤)- دلیل ساطع ۲۲٤ .

(د یوان ۳۹ مخ د سوات چاپ)

حمید ماشو خیل ویلی دی:

که په مینه کښې مې سرد دلارام ولاړ
دلکو نو په سود امې یو چدام و لاړ

(ددیوان ۵۹مخ د کابل چاپ)

(چدام) ملاعبد الغفار کندهاری په کو نجکه ترجمه کړی دی(۱)اوښاغلی رښتین پر کونجکې سر بېره دتولې اتمه حصه وزن هم بللی دی (۵) چه داوروستی ترجمه یې په پښتوقا موس او ظفر اللغات کښې هم ضبطده(٦) خو په ظفر اللغات کښې (مجازاً لزخیز) هم پرزیات شوی دی په افغان قاموس کښې (درم) په چدام ترجمه او په سند کښې یې دحمیدماشوخیل پورتنی بیت راوړه شوی دی (۷) چدام دیوې سکې نوم دی چه دشپږ ودامو ارزښت به یې درلود ـ ددې سکې نوم تراوسه پورې لا دهندوستانیو په خولو کښې پاته دی سوامی هروی چه وړم کال په (۱۹٦۰ع) مړ دی ویلی دی:

هرهی مایا ـ هرهی دام کیسا پیسا اور چهدام(۸)

د خوشحال په بیت کښې د (خزانې) ـ د حمید په بیت کښې د (لکونو) او (سودا) د احمدین په بیت کښې د (پنځه) او (پنځوس) کلمې هغه قرینې دی چه باید په نو موړو بیتو کښې د چدام له کامې څخه یو مسکوک مراد شی.

دمړی:

خوشحال ویلی دی:

که حاتم غوندې کرم کړې په مهر انو
د یوې د مړی په چامه زده منت

(د خوشحال کلیات ۵۷۸مخ د کندهار چاپ)

دزړه ښندنه اسانه نه ده

بې ځایه څوک ښندی یوه دمړی

(دخوشحال کلیات ۵۷۸ ـ د کندهار چاپ)

کاظم خان شیدا ویلی دی:

په دمړی ګران دی مه یې رانیسه
بهلې مانسه! بهلې مانسه!

(دشیدا دیوان ـ ۱۳۹ ـ د کابل چاپ)

د The Coins of India په ۹۳مخ کښې لیکلی دی چه «دام Dam نیمی ـ څلرمه او اتمه هم درلوده. د جلال الدین اکبر (۹٦۳ـ۱۰۱٤ هـ. ق) په زمانه کښې دمړی سکه کېدله او د دام اتمه برخه ارزښت یې درلود».

د ویدادمعارف اسلامیه د ۱ول ټوک په ۷۸ مخ کښې وایی:

[۱] د حمید دیوان دلاهور چاپ ٤۷ مخ.
[۵] ـ حمید دیوان ـ کابل چاپ ـ لغتنامه [ج] مخ.
[٦] ـ پښتو قاموس ـ ۱ ټوک ۳۳۹ مخ ـ ظفر اللغات ۳۳۷ مخ.
[۷] ـ افغان قاموس ۲ ټوک ۱۰۳ مخ.
(۸) اجکل مجله ـ ستمبر ۱۹٦۱ ـ ٦ مخ

«دا کبر مغل په زمانه کښې دمسویوه سکه وه چه ددام داتمې برخې ارزښت یې در لود او (دمړا) لفظ به پر نقش و ـ زمونږ دزما نې دمړی ددغه توری مونث ده».

په دغه اقتباس کښې تاسې ولیدل چه د مړا او دمړی یوه سکه بلله شوې ده مګر داصحیحه نه ښکاری ځکه چه د The Coins of India د ۹۳ مخ په شهادت دمړا بیله سکه وه او بیل ارزښت یې درلود په دغه وروستی کتاب کښې لیکلی دی: دمړا د دام څلرمه برخه وه چه دوې دمړی په یوه دمړا او څلور دمړا په یوه دام چلېدل.

دآئین اکبری په ضمیمه کښې ددام څلرمه پاوله او ددام اتمه دمړی بلل شوې ده او د پاولې تول یې پنځه ماشې یوه رتی شپږ وریجی اودد مړی درندوالی یې دوې ماشې دوې رتی ضبط کړیدی (۱) دمړی کلمه زما په خیال د(دام) کلمې مصغر مؤنث شکل دی لکه له کوزې څخه چه (کوزه ړی) له کوټې (کوټه ړی =(کوټنی) جوړه شوې او اوس هم ویل کیږی (۲)دمړی کلمه په هندوستان کښې اوس لاهم په خولو کښې پاته ده دوی متل کوی: چمړی جایې ـ پر دمړی نه جایې (۱) یعنې (دبدن) پوست دې ولاړشی خو یو دمړی دې نه ځی.

ددام نور اضعاف لکه روانی Rawani چه دجهانګیر مغل (۱۰۱٤ـ۱۰۳۷ هـ.ق) په پاچاهی کښې په یو نیم دام چلېدی (۱) په پښتو اثارو کښې نه دی لیدل شوی دغه راز ددام نوم نور اجزأ هم ضبط دی چه په پښتو اثارو کښې یې څرك نشته لکه: نیم دامی چه دا کبر مغل (۹٦۳ ـ ۱۰۱٤ هـ.ق) په زمانه کښې یې ا د هیله یا نصفی باله او دنیم دام ارزښت یې درلود (۲) یا جیتل چه ددام پنځه ویشتمه برخه ارزښت یې درلود (۳) یا رایج Raij چه ددام تر ټولو کوچنی برخې ته ویله کیدله (٤).

(۱) آئین اکبری دلومړی ټوك د ۱۸ مخ دضمیمې ٤ مخ

(۲) دداسې مصغرو نومونو مثالونه د پښتو ګرامر ۱ ټوك په مخ کښې ګوری.

(۳) خزینته الامثال (۷۱) مخ.

(۱) The Coins of Iodia ۹۳ مخ

(۲) دآئین اکبری لومړی ټوك د ۱۸ مخ دضمیمې څلرمه صفحه ـ د The Cinsof India ۹۳ مخ

(۳) آئین اکبري ۱ ټوك ۱۹ ـ ۲۱۲ مخونه

(٤) The Coins of India ۹۳ مخ

لیکونکی:ق ـ خادم ـ څېړند وی

پښتو تصفیه غواړی

(٤)

اوس زمونږ په ملك کښې ښوونه لږه پراخه شوې ـ اولږه هم لوړه شوې ده ـ مدعا دا چه زمونږ په هېواد کښې د مطالعې ور بیر ته شوی ـ زمونږ دنورې نړۍ او دنو رې دنیا مونږ سره ا ړه او نښت (تعلق) پیدا شوی دی . مو نږ د نور جهان علمی اوادبی لیکنې لوستلی شواولولو ئې. اودغسې هم خلك زمونږ لیکنې لولی او اوری. اوله خبرو څخه خبرې پیدا کیږی . نو ځکه اوس چه هره خبره منځ ته راولویږی ډېرې پکښې اوریدل کېدی شی. اودې خبرې اوس په هر چاخپله سکه منلې ده چه «ډېرې خولې ډېرې خبرې» دې چارې ته مونږ په بده سترګه نه ګورو. ځکه چه «څه پیداشی نو څه به وشی.» او دا په دې چه « د هېڅ نه هېڅ نه کیږی! »

مونږ پو هیږو چه په ټولو قو مو نو اول د خبرو ـ بیا د فکر او وروسته د عمل مرحله راغلې ده. زېږنده ـ تولد او تناسل د حیات او کائناتو په هره خوا کښې یو جاری عمل دی . خبرې پیدا کېدل ـ ډېریدل ـ له خبرو یوه لړۍ اوجر یان جوړېدل ـ اوله فکری جریا نا تو څخه کومه قوی حیاتی فلسفه پیدا کېدل دژوند دنشؤ اوارتقأ معمول دی. خو کوم وخت چه خبرې ډېرې شی ددې دامعنی وی ـ چه خلك د خبرو بر سیره خواوتل ـ پو ټکی او مغز ـ مقدمی او هدف ـ شکل او نتیجی په توپیر او بیلتانه نه پوهیږی ـ که نه نو «هوښیارته اشارت دی.» ډېر اخلافات او بد تفاهمو نه له دې پیدا کیږی چه «یووائی: جو ـ بل وائی وربشې» اوپه ړې سره نه پوهیږی چه «جو» او «ور بشې» یوشی دی. یا مثلا یووایی: « فـ ونیم ـ مو رفیم ـ ګرافیم» بل وائې: «ژغ ـ ګـ ـ توری» البتـه مصطلحات له مصطلحاتو فرق لری. مثلا یوسړی ویلی شی چه (ژغ) مطلق صوت ته و ائـی او (فونیم) د صوت (واحد) صورت دی ـ نه مطلق صوت. دغسې خبرې خوشته ـ او کېدی هم شی ـ خوداهغه وخت که سړی خبره اوزدول غواړی. او که نه ـ پوهېدل غواړی نو که سړی ووایی چه (ښوونه ـ ښوونځی ـ ښووونکی) کلمې په یو ـ دوه ـ اودرې واوونو لیکل سمې دی. یادا چه

(ژبه-ژوند-ژرنده) لیکل له (جبه-جوند «زوند» او جرنده) لیکلو څخه غوره دی. یا لکه داچه ملکانان غلط او ملکان لیکل سم دی یا لکه داچه (زړه) او (ورور) او (وروستی) په (ړه)- (رور) او (زوستی) مخفف صورت سره لیکل نه دی په کار. نو دلته داشور، زوز اوسوري څه په کار دی چه هلیء د خدای د پاره په دې څیړ نو کښې دا ملاء لهجې او ګریمر موضوعات مخلوط شوی ی. دایې مخلوط، یا بیل- مدعا خوداده چه رغه کلمې باید دغسې ولیکل شی چه څوسمې ولوستل شی او په لیك کښې دژبې تشتت له منځه لاړ شی. او دامد عا خو واضحه ده. نو نورې خبرې اوزدول څه فائده-هو- دومره و یناپر ځای ده چه سړی ووایی «املاء د کلماتو دلیکلو طرز او ډول ته وائی. لهجه-دیوې کلمې مختلفو اداګانو او تلفظ ته وائی. ګریمر خو معلومه خبره ده چه د کلماتو د تصنیف اشتقاق او د جملو د طبیعی جوړښت لیاري - او فارمولونه دی. نو که داطلاق د توسیع او تساهل له کبله یا د مخاطب او لوستونکی د پوهې په اعتماد - او د خبرې داختصار له جهته بعضو نه مخلوط شی- خو معنی ترې واضحه وی- نو څه باك لری او که څوك املاء، لهجه، ژبه- ادب او ګریمر او پېژنی نه- نو په وروئې له علمی او ادبی محافلو ایستل په کاردی چه په کوم بل ځای کښې داخبرې زده کړی- او بیا راشی.

او س موږ دا سې خبرې ډیرې اور و چه وائی: «ژبه په خپل حال پریښودل په کاردی» یا لکه داچه «ژبه له سره خرا بیزی نه- څوك وائی، چه ژبه خرابیزی» یا لکه داچه «په ژبه کښې غلط بیخی شته دی نه- نو د مشهور غلط اصطلاح غلط ده» په دغه شان داته دوه-ره خبرې کیږی چه سمتې بنیء او ترتې ور نه ډکیدای شی. زه دا نه وایم چه خلك دې خبرې نه کوی چه څه اوری خو څه به وایې- خیر دی وائی دې- خو دومره پېشنهاد کول غواړم چه په خبرو کښې تعمق او تطبیقات د علم بنیادی وظیفه ده. په دغو خبرو کښې ممکن چه کومه یوه سمه هم وی- یا ورته سم تاویل پیداشی مګر که له سمې خبرې خلك کاږه تاویلات اخلی نو داهم کیدی شی- دا کاږه تاویلات یا له دې کبله کیږی - چه په علم کښې هم معلومات اخستل یو مرحله ده، یو هېدل بله مرحله ده، او تطبیقات اوله ټولو کوچ او نتیجه ایستل بیله خبره او دریمه مرحله ده- نو که زمونږ ځینې کسان دغه دریمه مرحله کښې وارد شوی نه وی - نو دا ګناه نه ده - معذوریت دی. البته ګناه داده چه سړی پوهیږی-

اوهماغسې لهخپله ضده نهاوړی. «په ناپوهیء اعتراف خونیم علم دی» مګر داسې خلك هم شته چه دپوره علم هم پروانه لری. نو نیم لاڅه کوی. او داولې کیږی داځکه چه دلته پوره اوسم علمی قضاوت تراوسه نه دی راغلې. او په متنازع فیه مسئله کښې علمی پرېکړه نه څوك کوی او نه ئی څوك منی. له دغی حالته باید په «علمی اوادبی انارشی» سره تعبیر وکړو. نو دغه د کږو تاءویلاتو بله وجهه اوعلت دی. نو که ددې فارمول چه «ژبه په خپل حال پرېښودل په کار دی» دامعنی واخلو چه ژبه په خپل طبیعی جریان پرېږدیء. دژبې له طبیعته مخالف څیزونه مه ورګډوی. دا خو هما غه خبره ده چه موږ ور باندې ټینګار کوو. او که ئې معنی داوی چه په ژبه کښې هېڅ مه وایی ء تصفیه ئې مه کوی ء هرچا چه هرڅه وکړه کوی دې ئې دغه خلك دژبې خاوندان وی او که پردی لګیادې وی ژبه چه هرې خواته لاړه تالې به وی. څه پر واکوی. نو په دې صورت کښې موږ دومره وایو چه «دژبی خدمت» یعنې څه فلالوجسټ. ګرامریسټ ادیب او شاعر مثلا ژبې ته څه خدمت کوی؟ او څه خدمت ورته کولی شی؟ ښه نو مونږ داڅنګه ومنو چه ژبه په خپل حال پرېښودل په کار دی او تصفیه پکښې نه ده لازمه.

او داڅنګه ومنو چه ژبه له سره نه خرابیږی. او داڅنګه واورو چه په ژبه او ګریمر کښې غلطی نشته. او نشی کیدای. همدا اوس ځینې خلك «ښوونځی. ښوونځیء» «ښاروالی. ښاروالیء» «لیکونکی. لیکونکیء» لیکی.

همدار نګه ځینې خلك د «دی. راغلی. لیکلی. لیدلی. کتلی. وروستی. کابلی. موږی» دملینې «ئې» په حال کښې چه دمذکر تلفظ دی. په مجهوله «ئې» سره لیکی. زه به داومنم چه (ښه. داددغو خلکو لهجه ده) مګر دلهجو په لیکلو کښې معیار او توحید پیدا کول او ټاکل یا ساتل او مراعات کول. ګوندی ښه کار نه دی. که ښه کار وی. او هرچا دا کار کړی وی نو اوس څه وکړو.

مثلا دا جمله به را واخلو: «زلمی په ښوونځی کښې تر ټولو ښه لیکونکی دی.» په دغه جمله کښې تاسو ـ

(۱) (زلمی. لیکونکی ـ دی) په ملینه او ښوونځی دعامل له کبله په معروفه (ئی) ولولیء

(۲) په همدې جمله کښې یو بل ډول تلفظ او لیك هم موجود دی. هغه دا چه همدغه درې واړه پورته کلمی په (مجهوله ئې) وائی او لیکی ئې.

(۳) یو تلفظ او لیك داسې هم شته چه دغه درې واړه کلمې د (ښوونځی) د کلمې سره په

(ثقیله ئې) وائی او لیکی ئی هم .

(٤)دا چه « زلمی په ښوونځی کښې تر ټولو ښه لیکونکی ده»یعنې په دې صورت کښې د (دی-ملینه یې) پر ځای تل (ده) ویل کیږی . دغه لهجه د مذکر او مؤنث دواړو دپاره (ده)راوړی او (دی) په فتحه سره هیڅ نه لری .

(٥)یوه بله لهجه موجوده ده چه دمذکر او مؤنث دواړو دپاره (دی- په زور سره)وایی ، او (ده)نه لری.

(٦)ځینې (ښوونځی)په یو (و) ښوونځی لیکی.

(۷)د(کښې)د لیك اختلافات خو می لادرته مخکښې ښوولی دی.چه(کښې - کې - کی کښېناستل- کیناستل) دی .

مرکله چه دغه اختلافات شته . نو اوس زمونږ د پښتو فضلاؤ عقل څه وایی- په دغو کښې وګړیږ ومعیار ورته پیدا کړو- پر یکړه پکښې وکړو او که نه د ځینې خلکو په اصطلاح «اوغانی کاردی وی به » که له پښتو د سوالګرو کند او د زیارت جنډه جوړول نه غواړو-او په خپله ژبه - لیك او اینده سرنوشت موږ ډه درد کوی- او اساسا ارتقائی تګ او یون غواړو نو باید څنګه وکړو ؟ په دغسی حال کښې لازمه نه ده چه د علم ژور فکر او تدبر له مخه کوم لغت، کومه لهجه، کوم قسم لیك غوره وبولو که د اونکړو نو په داخل او خارج کښې به خپله ژبه څنګه عامه کړو او د تعلیم او تدریس وړیې وګرځوو؟ او ایا مناسب نه ده چه ځینو ته د نورو په نسبت سم ووایو ؟

(۸)هو په دغه جمله کښې خو لانور اختلافات هم شته د کامې خلك وایی : « زلمی په ښوونځی کښې د ټولو نه ښه لیکونکی دی »نو که زه پخپله محلی او ایالتی لهجه ټینګ شم او ووایم چه موږ خو «ټولو نه»وایو او چه څه وایو نو هماغه به لیکو کنه ،ځکه چه که داسې ونکړو نو لیك به مو له محاورې او وینا څخه لری شی . او دا خوډیر بد کار دی . ولې چه نوی خبره دا ده چه « لیك او محاوره باید سره بیخی نزدې وی» ښه نو دا منطق او دا ټینګار به ددې لوی قوم،لویې جامعې او ښاغلی تاریخی «پښتوادې»په ضرر تمام نشی؟ نو ځکه زه خو پخپله ټول پښتون یو ملت -ټوله پښتنی سیمه یوه جامعه او له ټولو لهجو څخه چاڼ شوې په معیاری اساس جوته شوې او په صفا بې خدشی لیك روغه شوې ژبه «پښتو» او د پښتون قام «ناموس» ګڼم.

که پښتو په دې حال کښې تصفیه او کره

نشوه ـ نو ډیره ویره شته چه لغته وخوری. یوه تعلیمی او ادبی ژبه خو را زیا ته اړتیا لری چه ددې املاء، انشاء، ګریمر او افادوی قدرت ثابت سټینډرډ ـ او منلی صورت ولری. دا کله کېدی شی چه سړی یوه جمله په لسو مختلفو او رنګارنګ صورتونو ولیکی او ولولی؛ لکه چه مخکښې مو مثالونه وښو دل. او دا کله تعلیمی او ادبی وینا کېدی شی چه سړی دوایی: دا هم سمه ده او داهم. په پښتو کښې ډیرې نورې خبرې هم شته چه تصفیه غواړی لکه «دحال فعل په پښتو کښې څه معنی لری» مثلا که موږ وایو چه: (خورم ـ کوم ـ ځم) نو ایا معنی یې داده چه لګیا یم ـ او که دا چه او س به لګیاشم ـ او که دا چه دا فعل په دواړو دلالت کوی ـ که محاوری او مثا لو تو ته وګور و نو پښتانه وایی «ډوډی خورې درته ئې راوړم» جواب: «هو ـ خورم ئې.»

یوه بله محاوره وګوری ء: «هلکه ـ څه کوې چه نه راځې؟»

جواب: «بابا خط لیکم درځم دغه دی.»

نو او س معلو مه نشوه چه د حا ل د فعل معنی داده چه کار جاری دی ـ او که دا چه جاری کېدونکی دی ـ او که دد غسې صیغو معنی داوی چه دا کار جاری نه دی خـو جا ری کیږی. نو په دې صورت کښې د (خورم ـ او وبه خورم) څه فرق شو؟ ـ او ولې یو ته حال او بل ته استقبال وایو ـ؟ او که دحال فعل د حال او استقبال دپاره مشترك وی نو ولې ورته دحال فعل وایی؟

اوس نو که څو ك په یوه رسمی وثیقه کښې ولیکی چه «زه اقرار کوم چه د هو تك په ماسل روپیء پوردی» نو دلته دا اقـرار وشو او که نه؟ ځکه چه اقر ار کو ل او د اقرار وعده کو ل بېل بېـل څیز و نـه دی. کـه د «اقرار کوم» معنی داوی چه دغه دی لګیا یم او د اقرار په حال کښې یم نو دا با ید شر عی اقرار حساب شی. او که معنی داو ی چـه «زه به اقرار و کړم.» یعنې هر وخت ئې چه روپی را کړې ـ نو اقرار به و کړم. نو په دې عبارت ایا شرعی اقرار تثبیت کېدی شی؟ ـ او ددې عبارت امضاء کوونکی بله وزځ دا دعوی نشی کولای چه قاضی صاحب د خد ای دپاره ماخوویلی ووچه اقرار کوم ـ خو په دې شر ط چه هو تك روپی ء را کړی. اوس ئې چه روپی را نکړې نو ځما ګناه څه ده؟ صاحب د خد ای د پاره ماته خویی روپیء نه دی را کـړ ی! نو اوس دې زموږ هغه ملګری ووائی چه دژبې خپل سرته د پرېښو دوطر فد ارد ی چه ایا

پښتو تصفیه غواړی او که نه ؟ دغسې سلهانورې ډیرې خبرې شته چه کول او څېړل ئې زموږ دملی ژبې دپاره لوی قیمت او اهمیت لری .

داخبرې چه زه کوم له دغو څخه دا معنی اخستل نه دی په کار چه ګوندې پښتو ژبه پښتو املاء او ګریمر کښې اصلا نیمګرتیا موجوده ده . پښتو ژبه تر ډېره حده کامله ـ پخه ـ او قانونی ده . لیک ئې هم تر ډېره حده تصفیه شوی دی ـ او د پښتو کارور باندې چلېدی شی . خو ډیره به ښه وی چه موږ ئې نوره هم تصفیه کړو او ورانه ئې نکړو . ورانول به ئې داوی چه موږ هر یو په خپل سر روان شو ژبه په محلی او کوچنی قالب کښې وګورو ـ او ټول دغه پورته اختلافات چه موږ ورته اشارت کړی دی لوی محیط په نظر کښې ونه نیسو . نا حل نه دی پاتې ـ د علماؤ او ادیبانو په منځ کښې دغه خبرې تر ډیره حده فیصله دی ـ خو ځینې خلك نه پوهېږم ولې علمی ـ ادبی او تاریخی فیصلو ته غاړه نه ږدی . بېرته به وګرځو ـ او یادو شووا ختلافاتو ته به د فیصلی او پر ېکړې له مخې وګورو :

(۱) زه خپله د کامې محاوره چه په دغه یاده شوې جمله کښې (دټولو به) ده نه لیکم . او دهغې پرځای (ترټولو) د کندهار محاوره غوره بولم .

دلیل را سره یو دادی چه د (د) اغلبا د اضافت حرف دی او په دغسې مواقعو کښې د اضافت مفهوم نشته او زیاتی لادا چه د غلته په پښتو کښې یوه بله سو چه محاوره موجوده ده چه هغه د (تر) استعمال دی ـ نو له مثبته او شکمنې محاورې څخه سو چه محاوره په هر صورت غوره ده . او دانو څه پروا لری چه د کندهار وی او که د ننګرهار .

(۲) ـ دی ـ ده : دا پر ېکړه زموږ اسلافو ډېره پخوا کړېده . د بنوا و خټکو په لهجه کښې (دی) نشته . دوی مذکر او مؤنث دواړو دپاره چه مفرد وی ـ (ده) وائی .

مګر لوی پښتون خوشحال خان خټك خپله خصوصی او محلی لهجه ناقصه ګڼلې ده او د پښتون ملت عامه او رایجه کثیر الاستعمال لهجه چه قانونی هم ده معیار ګڼلی دی .

هغه دا چه د مفرد مذکر دپاره (دی) د مفرد مؤنث دپاره (ده) او د جمعې دپاره (دی) لیکی . لوی مجاهد میا روښان هم دغه محاوره غوره کړېده . که څه هم دده خپله محاوره هم خټکو ته ورته ده . او غالب ګومان دادی چه دوی ته دا محاوره د دوی نه له مخکښې پښتنو لیکوالو څخه پاتې شوې وی . یو ازې میا روښان او خوشحال خان د پښتو

دپاره دا کارنه دی کړی. بلکه ټولو. لویو لیکوالو او علما ؤ دا کار کړی دی. نو ر مثا لـونه به ئې وروسته راشی. مثلا :

(۳) قاضی میرا حمد شاه صاحب ر ضو انی دپښتو لوی عالم ـ شاعر ـ او لو مړنی سړی وچه ده په حاضر عصر کښې دپښتو یو متین علمی مکمل او مختصر ګر یمر لیکلی دی چه په عصری اساسو نو بنادی. دا ګریمر «وافیه» نو میږی. ګومان کوم چه د عر بی د کافئې ا و ا لفیې په جو اب کښې دی. قـا ضـی میراحمد شاه مړدی. ګر یمر ئې هم ا وس ډیر نادر دی دا کتاب پر نګیانو چاپ کړی و. ځکه چه دی په سر حـد ی صو بـه کښې دپرنګیانو دپښتو ا ستاذ او د ا سلا میه کا لج پروفیسرؤ. قا ضی میر ا حمد شا ه صا حب رضوانی دسرحدی صوبې دمردان دضلعې دی. دمردان په ضلعه کښې دخلکو ینا اومحاوره دا سی ده چه دټولو ملینو ئې ګانو په مورد کښې په مجهو لې ئې سر ه تلفظ کو ی. مدعا داچه ددغو پښتنو په لهجه کښې ملینه ئی نشته له بلې خو ا داایا لت په ثقیلې ئې داسې تلفظ کوی لکه چه ئې سا کنه و ی اومخکښې ترې لږ کش کړی اوزوردارزوروی. مګر دقاضی صاحب دغه ګر یمر پیدا کړیء و ګور یء چه دی څه وائی ایاده خپل ګریمر د ټول ملت عمومی ژبه په نظر کښې نیولی لیکلی دی ـ او که یوازې دنهو لکویوسفزو دلهجې دپاره ئې تیار کړی دی. موږ ار یانیږو چه له ځینې خلکو او ر و چه په پښتو کښې ولې کومه خاصه لهجه نه تعمیمیږی ؟ داریانی دلیل دا دی چه شوی کار ولې وران کړو ؟ سره ددې چه په عوض کښې به ئی دبل کار په کو لو موفق هم شو ، او که یه ـ ټول قوم او ملت به ئې را سره ونه منی ـ نو که راسره وئې نه منی ـ نوچه له کوم کارڅخه زمونږ مراد اتفاق وی ـ نفاق به راپیدا کړی. اودا به لویه خساره وی.

ر ضوانی صاحب په (ملینه ئې) قائل دی. او هغې ئې ته ئې وائی چه سا کنه اومخکښې ترې زوروی، قاضی صاحب داهم ز یاتوی چه ملینه ئې دتذ کیر علامه ده یعنې دهر اسم په اخر کښې چه داسې ئې راشی چه سا کنه اومخکښې ترې زور وی ـ نو پوه شه چه دا اسم مذ کر د ی. بیا په مقا بل کښې ثقیله ئې هغه بلل شوېده چه سا کنه او مخکښی ترې زور کی وی او بیا په ا تفاق سره داخبره منل شو یده چه ثقلیه ئې په مفرد واسماؤ کښې دتانیث علامه ده. زما غالب ګومان دا دی چه دغه اصطلاحګا نې

او فارمو لونه په پښتنو کښې ترڅولولومړی قاضی صاحب پیدا کړی او استعمال کړی دی.

دقاضی صاحب نه وروسته په ورو - وروپه ټوله پښتو نخوا کښې ملینه ئې - ثقیله یې او ددغوئې ګانو موا ردلیکو الو وپېژندل او خپلو ګرامرونو او اثارو کښې یې په مختلفو عباراتو واخستل.

دغه دی زما په مخه کښې پښتو ښو وونکی دښاغلی محمدعثمانخان تالیف - دپښتو دژبې لیاره دښاغلی محمدګل خان تالیف - دپښتو ادب د ښاغلی عبدالحلیم اثر تالیف - اومعلم پښتو د کندهار دتالیف دهیئت لیکنه پراته دی - دغه کتابونه دغه (ئې ګانې) په همدغه شان پېژنی او همدغه ئې موارد ګڼی. مګر اوس دلرې او رې پښتو نخوا اکثر اثار ګورو - چه یو تر بله سره نه تطبیقیږی.

څوك دملینې یې پرځای مجهوله ئې لیکی لکه دپښور په اوسنی لیك او تحریر کښې یې چه رواج موندلی دی او څوك دملینې ئې پر ځای ثقیله ئې لیکی لکه چه مخکښې ورته اشاره شوې ده خو نه خبره په اصل کښې پرېکړی او فیصله شوې ده داسې چه.

الف (۱) هغه مفرد مذکر جامد نومونه چه اخر ئی په (ئی) تمام شوی وی لکه سړی - لرګی - موږی -

(۲) دټولو فعلی صفاتو دمفرد مذکر صیغې لکه وهلی - خوړلی - تللی - راغلی - شړلی شرمولی - خوځېدلی - تیر ایستلی - ځو رولی سو زولی اوداسې نور -

(۳) دټولو هغو منسوبو اسماؤ دمفرد مذکر صیغه چه نسبتی علامه ئې (ی) و ی - لکه پېښوری - کندهاری - ننګرهاری - باجوړی - اپریدی - یوسفزی - بارکزی - وزیری اوداسې نور.

(٤) هغه اسمونه چه د (والی) په لاحقه تعامیږی لکه ښاروالی - تنګوالی او پلنوالی. په دغو ټولو مواردو کښې ملینه ئې راځی. هو په دې شرط چه دغه اسماد عواملو د تاثیر لاندې نه وی او که عوامل راشی هغه بیا بېله خبره ده د ملینې یې دلیك د پاره د پښتو ټولنی فیصله داده چه ئې به ګرده لیکل کیږی او مطلقه به پر پښو دل کیږی یعنې کږ کی، ټکی یا نور څه علامه به نه لری.

البته که ځینې خلك ئې ماقبل ته زور ورکوی دې پاره چه لیك به صریح شی نو عیب نه لری. مګر هر کله چه حروفی مطبعی زور زیر او نور حرکات نه لری او په ټایپ کښې هم نشی را تلای نو ځکه پښتو ټولنې ورسره زور لیکل نه دی شرط کړی.

ب- (۱) په اسماؤ کښې دهغه مفرد مذکر نسبتی اسماو - دمؤنث صیغې چه په نسبتی (ی) تمام شوی وی لکه چه په (الف) کښې وښودل شول

(۲) همدارنګه ځینې جامد اسما لکه پګړیء- خولیء - شړیء - لکیء بګیء او داسې نور

(۳) ځینې تصغیری اسماء لکه لوخټیء - کوټګیء، بسوګیء او داسې نور

دا د ثقیلی ئی د لیکلو ځایو نه دی په دغسې مواردو کښې دغه ثقلیه ئی تانیثی علامه ګڼل کیږی هو همدغه ثقیله ئې په افعالو کښې دمخاطب دجمعی دپاره هم راځی لکه خوریء ځیء- ویء- یی ء- راغلیء- ولاړشیء- کښناستیء- وغورځیدیء- څملاستیء- مه ورځیء - کښې نه نیء اوداسې نور.

او کله په اسماؤ کښې دجمعی علامه هم کیږی لکه مستیء- پستیء- خواریء- بدیء اوداسې نور. او کله دعامل په واسطه معلومه ئې په ثقیله بدله شی لکه (له یخنیء او مستیء ځان ساته.)

تبصره - دغه ثقیله یې- تراوسه دلیکلو په حال کښې اختلافی ده څوک ټولې ثقیلې یې ګانې په اسماو کښې وی که په افعالو کښې په مفرد کښې وی او که په جمعه کښې په کږ کی (ء) سره لیکی.

او ځینی ټولې ثقیلی یې ګانی په لکیء داره یی (ی) سره لیکې او ځینی داسی کوی چه په مونثو اسماؤ کښې ورته لکیء ورکوی لکه (خولی- پګړی - شړی) او په افعالو کښې ورباندی کږ کی (ء) لیکی. مګر د دې خلکو دجمعی حالت هیر شوی دی - که نه نو دغه حالت ته به یې بله علامه ټاکلی وه زه پخپله دثقیلی یې په ټولو مواردو کښې د کږ کی پرخوایم. ځکه زه پوهیږم چه په دې صورت د ټولو پښتنو اتفاق کیدی شی نه په بل صورت - خو په هر صورت دیوې ثقیلی ئې د (ګرافیم) دپاره په دوه- درې صورتونو او ګرافونو قطعاً قایل نه یم. ځکه چه په تعلیم، ښودنه- لیك او مطبعه کښې زیات مشکلات پیدا کوی. زه وایم که پښتو ټولنه په دې باب غورو کړی- او دثقیلی ئی یو صورت غوره کړی. دا به ښه وی نور مثالونه به بیاو ښیو

قدرت الله حداد

پښتو تصفیه غواړی .

نوی ملی ادب څنګه مینځ ته راځی ؟

هغه کړاوونه چه نننی لیکوال ورسره مخامخ دی

لیکوال ترټولو مخکښې باید یوه روښانه مفکوره ولری- په خپل فکر او مسلك کښې دتخصص خاوندوی. نن لیکوالی داسې نه ده چه سړی یوه ساده موضوع ولیکی دمنی اوژمی په غم کښې پاتې وی- پسرلی به ستایی- ژمی به غندی .....

لیکوال خپل قهرمان په یوې لویې نړۍ کښې ښیی چه له څه ډول شرایطو سره مخامخ دی او دده عکس العمل څنګه دی. او داشیان چه موږ یې لیکوا وورباندې غږیږود هغوی دلیکنو بېل بېل فصلونه تشکیلوی- دوی پرته له ادبیاتو په اقتصاد- فلسفه- احصائیه- روحیاتو- تاریخ - جغرافیه .... کښې دیوه متخصص په اندازه پوهه لری. دټولنې دژوندانه په ټولو کیفیاتو خبر دی. او که چېرې لیکوال جدی شی نو پوهیږی چه څرنګه د خلکو پر افکارو او ماغزو حمله وکړی - په څه ډول نوی فکر هغوی ته ورکړی اوزاړه شیان په کوم ترتیب ددوی له ماغز و څخه وباسی چه داډېره یوه درنده اوربړوونکی وظیفه ده .

نوی ملی ادب :

البر کامو (۱۹۱۳- ۱۹٦۰) چه دفرانسې نامتو لیکوال دی، دنوی ادب په برخه کښې وایی: «الجزایری مظلومان وینم چه په مترو که وهل کیږی او که په دې وهلو کښې مړه شول نومړی یې سمند رته غور ځوی او تل ددوی کریغې اورم. آیا زه چه دا ډول منظرې ګورم څرنګه دساقی- پیمانې ،ګل او بلبل خبرې وکړم؟ دغه زموږ نړۍ له کار خانو، ټرافیکی وسابلو، دنګو عماراتو- ګڼ نفوس څخه ډکه ده، ټول خلك په تلوسه او اضطراب کښې دی- دانسان حواس یوه شېبه له دغو مصیبتو څخه نه شی فارغېدای . آیا اوس هم کولای شو دآزادې او کرارې فضا، شنو چمنو په باره کښې وغږیږو اوووایو چه وروسته له څو ګړ یو یو شپون له خپلې شپیلۍ سره پیدا شو او سکوت یې رامات کړ. داخبرې داوسنیو خلکو له ژوند سره هېڅ ډول اړیکه نه لری او دایو بې خونده خوب دی » د اوسنیو لیکوالو په عقیده باید له ملی ادب څخه یوه چار دیوالی راوګرځوو

اوهر نوی شی که مثبت وی که منفی باید دغه چو کاڼ ته ننه باسو .

یو کمکی مثال:

په بین المللی نندارتون کښې- دهر هېواد پاویلیون له ورایه نظر معماری سبکو ته پېژندل کېده- مګر دننه بیاعصری سامان په کښې و : لکه دولسی چیز پاویلیون چه دچین یوه کوچنی نمونه یې ښودله - اوهمدغه راز دهر هېواد ملی هنری خصوصیات لکه دهمهغه هېواد پیداوار په کښې موجود وو .

اوس نوراغلودې خبرې ته چه څرنګه ملی نوی ادب مینځ ته را تلای شی . آسانه او حقیقی لاره داده چه تل دې ملیت اووطن پرستی زموږ سره مل وی او بیا به دهغه دتکامل په لاره کښې هڅه کوو- مګر اساسی شرط دخپل محیط پېژندل دی . هرزده کوونکی چه هر ادبی اثر وګوری په لږ دقت پوهېدای شی چه نوموړی اثر د کوم هېواد دی که څه هم دهغه هېواد یادلیکونکی نوم نه وی ورباندې لیکل شوی. مګر دیوه زده کوونکی لپاره دهر هېواد په برخه کښې ژوره مطالعه په کار ده چه موږ پردغه مطلب باندې -لاندې کرښو کښې رڼا اچوو .

د نورو ادبیات،

ژان پل سارتر (۱۹۰۵-...) لیکی: دیوه هېوا د فیلم چه یوه افسانه تمثیلوی کله چه یوه بل هېوا د کښې ښود ل کیږی هماغسې چه نندا ره کوونکی بد لیږی- هماغه ډول موضوع هم بدلیږی (فلمونه هم دلویولیکوالو دآثاروله مخې جوړیږی اوسارترهم د اخبره دخپل یوه اثر په کومه برخه کښې کړې ده) دی وایی چه: یومکزیکی فلم فرانسې ته راغی موضوع یې دا وه چه دیوه کوچنی هلك یوه سترګه ړنده وه - نورو هلکانو به مسخرې اوملنډې ورباندې وهلې، ړانده هره شپه اوهر چېرې دعا کوله چه خدایه بله سترګه مې بینا کړه!! یوه شپه کوچنی د اتشبازی ننداري ته ولاړوله قضادا ریو بڅری یې روغې سترګې ته والوت اوبله سترګه یې هم ړنده شوه .

معجزې ځان په یوه خوفناك شکل وښودو وایی : هغه کسان چه مکزیك نه پېژنی - نه پوهیږی چه نوموړی فلم - مذهب پورې ملنډې وهی؟ دیوې سترګې ړوند عیبجن او ددووسترګو معذوردی؟ یاداچه دعاقبوله شوه اودخلکوله مسخرې څخه خلاص شو؟»

دفلم مثال له دې امله راغې چه نن دادبیاتو ساحه پراخه شوې اولیکوال نه شی کولای چه

خپل مطلب په یوه ادبی ټوټه کښې ځای کړی یا یوغزل دده دفکر نمایندګی و کړی. دوی (مثلاً) یورومان لیکی اودهغه له مخې یوفلم ډ کیږی اودفلم اخیستلو دشر کتو نمایندګان تل دلویو لیکوالو ددراوزې ترشاو لاړوی او ددوی له کتابوڅخه دفلم اخیستلو اجازه اخلی. وبښیء له مطلب لږلیرې شوم . موږ غواړو چه دنوی ملی ادب په برخه کښې وغږیږو. زمونږ ادبیات یوازې موږ پورې اړه لری او ز موږ له ژوند سره وده کوی مګر که څوك ژوند ته ورننوزی اوخپل عکس العمل نوروته څرګند کړی په نورو عواملو او خبرو پورې تړلی دی .

یوبل مثال،

خد ایار کابلی دژوند ون دمجلې په ګڼو کښې د(کارت عروسی). (دیدو وادید) (اینه مصحف) او دغه راز موضوع ګانو باندې مقالې لیکی. داخبرې یوازې موږ پورې اړه لری او که چېرې یوه ار و پایی ته دا خبره ترجمه شی چه د(د ید وادید) په مقاله کښې خدایار کابلی لیکی: کله چه تاسو خپل یودوست گوریء بایدلومړی له هغه څخه دتلیفون په وسیله وخت وغواړیء . هغه اروپایی به د ې خبرې ته حیران شی ځکه هغه ته یوه ډېره طبیعی اومعمولی خبره ده. داوملی ادب او دجهانی ادب په برخه کښې موږ څه نه و ایو ځکه هغه مودبحث موضوع نه ده .

ګرانه پښتو،

ما یوه خبره اوریدلې چه ډېره مې خو ښه شوې ده. داخبره دشعر په برخه کښې ده خوماته یې ساحه ترهغه لږ پراخه بریښی هغه داچه:- «شعر پا ترجمه کښې ځان بایلی» یعنې شعر نه ترجمه کیږی. ژبه هم دغه شانې ده. هرې ژبې اصطلا حات شعری کیفیت لری لکه: « ماخوب زنګوی». «دازماله غمه شین زړه» که په بله ژبه ترجمه شی خپل کیفیت له لاسه ورکوی. البته مفهوم ورڅخه لاس ته راتلای شی .

په پښتو کښې دیوې سیمی او بلې سیمی اصطلا حات هومره توپیر نه لری یوازې «لهجه» او تلفظ یوله بله سره فرق کوی. دد ې شی داصلاح اوسمون له پاره بایدیادصحیحې احصائیې له مخې دې اکثریت ته اعتبار ورکړ شی او یادې مینځنی حدو ته کل شی .

ځکه دافغانستان په خپرونو کښې بېلې املاوې اولهجې لیدل کیږی. یوه بله پښتو په مینځنی افغانستان کښې شته چه هغه ګومان کوم یوښه خلاصندوی دی اودغه پښتانه له فارسی

اوار دوڅخه ښایسته لیری دی. (مطلب داچه دبلې ژبې تر مستقیمې اغېزې لاندې نه ده) .

د کابل مجله باید دوه برخې ولری یوه معیاری پښتو چه د ټولو له پاره سند اوماءخذ وی بله دجراو بحث برخه.

بیا پښتو باید درې ډوله ولیکله شی لومړی پښتو دپښتو ویو نکوله پاره دوهمه پښتو د هغه چاله پاره چه پښتو یې زده کړې وی. دریمه د دواړو د پاره .

داووزما اجمالی نظریات دپښتو او ملي ادب په برخه کښې اودا ډول نظریات دپښتو ټولنې دپاره هرو مرو ګټور دی. پای

د هغو ستر گو پښتنو خبرې
داستړی ژوندې مبارک شه مینې
زا هده پرېږ ده دتسپو خبرې
درنه به وانه وړمه پوی شوی که نه؟
دتندی گونځې دې، مغل خونه یم
دا بو گنید لی هوسی ستر گې دتا
د حمزه زړه ته د لاسه ور کوه

څنگه درنې وی ددرنو خبرې
زده چه اشنا کړې په لیمو خبرې
کوی ما حول دزولنو خبرې
درته مې وکړې په پښتو خبرې
چه کوی نن د تا تر وخبرې
وکړی ناڅاپه دزمرو خبرې
دادی ارمانه ! دځلمو خبرې

ننګ یوسفزی

د پښتو د آسمان ستوری

ماسټر عبدالکریم

مرحوم ماسټر عبدالکریم د پښتو نستا ن د آزادۍ د ډ گر هغه غښتلی ـ ننګیا لی ستر مشر ا و د پښتو دادب د آسمان هغه ځلانده ستوری دی چه دادب ـ وطن اوخپلوا کی دهیڅ یو مین له ستر گو ر نظر نه به پټ نه وی پاتې له دې کبله دماسټرصا حب ژوند او لوړ مقام دې ته اړنه ښکاری چه گوندې سړی دې خلکو ته ها غه په گو ته کړی بیاهم که څوك دخپلې عقید تمندانه جذبې دتسکین او دزړه د ټکور د پا ره دې کارته اوزه هم ور کوی ـ نو ـ په دو مره لنډ اولږ وخت کښې دما غوندې سړی د پاره ـ خوپه سیر کښې پو ښې وریشل هم څه گرا نه او نا شونې غوندې خبره برېښی زه په دو مره لنډ ا و لږ و خت کښې څه و لیکم چه گوندې ماسټر صا حب څه و .

دهاغه دقومیت جذبې، دوطن مینې او دآزادی عشق ته گوته په خو له پاتې شم ا و که د هاغه دفن په لوړوالي او لطافت پسې ځان پره کړم :

دهاغه دانسان خوا خو ږ ی ذ جذ با تی کیفیت ژ ور وته د کوز ېدلو هڅه و کړ م او که دها غه ستر گور نظر وستایم . دخپلې خاورې دآزادی په لار کښې د هاغه غورځې پر ځې او ز لې بلې په د ر نو کانو وتلم او که دهاغـه دادب د ملغلـر و ا میلونه د گر ا نو لو ستو نـکو ر نـگین ذ و ق تـه سو غات کړم .

د ها غه د مړ ه خوایی په د روند خصلت ر ښا و ا چوم او که د هاغه دفطرت د رسامی شا هکا رونه څېره کړ م.

هیڅ نه پو هیږ م چه څه و کړ م ا و د پښتو نستا ن د دې شا ه ژ لمی د هنگا مه خیز ژ و ند ا و د فن ا و ا د ب ددې بې سر و تله سمند ر چه قد ر ت د ا نسا نی کالبوت په یوه خاور ین کنډ و لې کښې ځا ی کړ ی د ی کو مې یو ې ملغلر ې زیږ وو نکې چپې ته ور ژ غاړې وځم .

که یو ستا یم بل پا تې کیږ ی
زما دیار خا لونه وا ړه ستوری دینه

خو ـ ښه به دا وی چه دې لنډ وخت کښې زه یوازې دد وی دلیکنو د باغ ګلونه واخوم او هم پدې چینه خپله تنده ماته کړم .

زما په عقیده شاعر ـ رسام ـ او ښه لیکونکی دفطرت ژباړن ـ او د سیرت څېره کښ وی .

ماسټر صاحب هم لیکوال و . داسې لیکوال چه دخپلو همزولو په لړ کښې ـ دیوې ځانته لارې ښېښتن او په جګه پوړی ولاړ بریښی.

ماسټر صاحب ـ دغلامی په خړ دور کښې د محکوم مرکزی پښتونستان د اشنغر ـ د اتمانزو د یوې مینځو ما نه پښتنی کورنی په یودخاورینه او توره خونه کښې زېږیدلی اولوې شوی و .

څه رنګې چه هر فنکار دخپل فن ـ او ارټ درسولو په لړ کښې له خپل ماحول نه تاثیر او له خپلو تجربو او ازمایښتونو نه مرسته اخلی . ماسټر صاحب هم دقدرت له دې قانون نه نه یواځې په څنګ نه وپاتې شوی بلکه هاغه له خپل ما حول څخه پـه الهـام اخیستلو کښې تر نورو یوپل نور هم وړاندې وتی و .

ماسټر صاحب له خپل ماحول ـ او چاپیریال نه ډېر ې لږ زې تر زې په برخه موندلی وې او د ژوند ډېر تراخه واقعات او ستوغ حوادث یې له ستونې تېر کړی وو ، ولې هم دا سر خوږی په آخر کښې ورو په ورو دماسټر صاحب دفنی شاهکارونو روح وګرځېد او ماسټر صاحب یې په حیثیت دیولیکونکې د فن او ادب په ګوتو د فطرت درسامی او دسیرت دڅېره کښې معراج ته ورساوه .

زه له خپلې آندې داویلی شم ـ او هیله کوم چه لوستونکی به زما سره په دې عقیده یو لاس شی چه کهماسټر صاحب دیوې معمولی خونې په ځای په کومه بنګله کښې زېږېدلی او د اوړو ماڼیو خوندو نه یې اخیستی وای نو نه خو به ماسټر صا حب د ژو ند ا نه تور اړخونه او پر یوتی ګوټونه لیدلی وو او نه به یې دټولنې دې ما تو ګو ډو ته په غټـو غټو پام شوی و چه اوس یې وپښته ـ و پښته دماسټر صاحب له وړ لید «باریك بین» نظر نه تېر شوی ،اودادب اوفن په ګوتو ثبت شوی دی.

دماسټر صاحب دفن امتیازی او ځانګړی حیثیت دا دی چه ماسټر صاحب لکه دځینو نورو لیکوالو نه خو پخپله دا هڅه کړې ده او نه یې په دې لار کښې په پټو ستر ګـو دنورو په مډیل ایښی دی چه د عملی ژوند دتاباو په رسامی کښې دادب په زور او قوت د تصنع رنګ ډك کړی او حقا یق

داسې تر پښو لاندې کړی چه په لټولو لټولو یې دستر ګو کسی پریوځي او یاد تصور په داسې نیلی سپورشی چه دعملی ژوند تصورهم وریسې په رسېدلو کښې پاتې راشی بلکه ماستر صاحب چه دعملی ژوند په مخ څه لیدلی او یا دهاغه ستر ګور نظر درك کړی هم هاغه یې په زغرده په خپل اصلی رنګ کښې رسم او ټولنې ته وړاندې کړی دی. که ستاسو پام وی نو د ماستر صاحب څخه پخوا اکثر وافسانه لیکونکو دانسانی کردار په وړاندې کولو کښې تل په یوه سمی تګ کړی دی او یوازې دتلې یوې چکړی ته ئې ګیتی اچولی دی: مثلاً که څوك یې له نظره پرېوتی دی نو داسې یې ورپسې وراخستی دی چه تر څو یې ورنه کټ مټ شیطان نه دی جوړ کړی تر هاغې یو ساه نه ده اخستې او که په چائې زړه او به څکلې نو دومره یې پورته پورته کړی چه هاغه دچاخبره دې دځمکې چینجی یاد ختو بتکی ته ئې د اسمان پرښتې هم پسخولی دی.

ولې ګمان کوم چه دالاریوه غیر حقیقت پسندانه لارده ځکه چه په دې ډول، ادبی لفاظی او تخیلی رنګ آمیزی د ژوند حقیقی څېره په خپله لمن کښې رانغاړی او یو لیکونکی هېڅکله هم نشی کولی چه افراد یا ټولنه د کردار لغزشونو او دضمیر قیند کونو ته په پام کړی او هم دلته د «دادب دژوند دپاره» دحقیقی مفهوم اوغایوی جوهر چه دټولنې او انسانی کړو وړو اصلاح ده خپل ځان بایلی او ادب یوازې دادب دپاره یو شئ او بې پازې څیز پاتې کیږی.

ماستر صاحب دزړه په ستر ګودې کزلېچ ته په پام واوهم داوه چه هاغه دنورو له نیولې لارې کوز شو او ځانته ئې په پښتو کښې بېخی یو نوی رواو بنوونځی پرانیست.

ماستر صاحب دژوند په مرموزو رګونو ګوتې کښېښودی؛ دټولنې په څېره یې یوژور نظر وځغلاوه دفطرت وپښته وپښته یې له ستر ګو ووپسته او چه هر څه یې په خپله بیاسته ومېچل، نو په زښت اخلاقی جراءت او قلمی قدرت یې دخپلو ګڼو افسانو او کیسو مثلاً: سور دپریتو دی ـ لاټری ـ بیګار ـ خپله ژبه ـ دیتیم اختر ـ پرنده باچائی ـ دوه خدائی خدمتګاران ـ ښه استاد پاکه پاڼه ـ بې ګناه ـ په تصور مې ځان پاچا کړ ـ هېر به مې نشی ـ له بارا نه تښتېده دنیا وې لاندې یې شپه شوه ـ دخواره خواره برخه ـ اولیکوال مړ شو ـ غونډې ادبی شهپارو په ذریعه یې اعلان وکړچه انسان انسان دی ـ انسان نه پرښته ده ـ او نه شیطان ـ انسان که بدلری نو ښه هم لری، که د پر پوتلو کمزوری یې

د پښې اغزی دی نو د در پد لو تو ان یې هم دلاس امسا کېدی شی ،دژړا سره خندا ملګری ده ،د لوړې سره ژوره څته،داسمان هسکوالی د مځکې د ټیټوالی له بر کته دی او درناقیمت په تیاره کښې پټ دی ، نه خو ظلم دانسانی خصلت په برخه رسېدلی دی او نه د مظلوم برخه ېخسنې ختلې ده،داضروري نه ده چه دیوه د ژوند ټوله لاردې په تو ره تیاره کښې تېره شوې وی او بل دې څېره رڼا رڼاوی یو دې سرتر پښو د زمزم په او بو وینځلی وی او د بل څېره دې دګرمتیا په تبې هم داسې پسې توره پاتې وی .

لنډه دا چه ماسټر صاحب دانسانی فطرت او د اجتماعی او انفرادي ژوند هېڅ یوه لوړه ژوره نه ده پرېښې او د انسانی کړو وړو او کردار په و ړا ندې کو لو کښې یې د یوه خارق العاده مهارت د کار اخستلو سره سره د مرحوم ډاکټر اقبال ددې حکیمانه نظریې مرسته او پشتی کړی ده.

عمل سی زندګی بنټې هی جنت بهی جهنم بهی
یه خاکې اپنې فطرت مین نه نوری هې نه ناری هې

د ما ستر صاحب په افسا نو کښې عوامی او په خاص ډول کلیوالی ژوندته دروح مقام حاصل دی . ماسټر صاحب د مزدوراو دهقان د پاوه په خپله لویه سینه کښې دپېر زوینې یو عالم طوفانونه لری او د عوامو سره مینه کول د وطن او ملت سره عقیدت بولی.

د ماسټر صاحب په افساتو کښې دازادی ترانې، د محبت نغمې، دمظلوم آهونه، دظالم کردار،دیتیم اوښکې،دزاهدزهد، درندرندی، د مستانو قهقهې ، ددهقان خولې ، د مز دور دلاس پولی ،د تن پروری مړا ونی احساس د مړه خو ایی بریتور غر ور ، غر ض دا چه د ژوند ټو لې لوړې ژو رې، تو رې سپینی ، او ترخې خوږې ، په خپل اصلی او سو چه رنګ کښې په غوره طریقه ځای شوی دی.

زه له دې ا عتر اف نه غا ړه غړ ول لویه ګرمه او ګناه بولم چه د فن او ارټ په لحاظ ماسټر صاحب د نړی له ډېرو او چتو او نومیالو لیکوالو نه په هیڅ هم کم نه دی او که چېرې ماسټر صاحب د بلوا کی او محکو میت په تورتم دور کښې نه وای زېږېدلی او ده دیوه ازاد قام په ازاده غېږ او دازادوطن په خپلوا که فضا کښې سر پور ته کړی او ستر ګې سپړدلی وی ،نو دده د فن اوادب د کو کیانې دسمسورو ګلانو خوش بویی به د دنیا ګوټ ګوټ ته رسېدلی وه او دی به یقیناً چه د بین المللی ادب د اسمان یو ځلانده او رو ښانه ستوری ګڼلی او منلی شوی وای.

هسې خود ماسټر صاحب ټولې افسانې په خپل

خپل ځای شل شل، اومن من دی بیاهم «لیکوال مړشو» ترټولو غوره گڼلی شوې ده، و لې «سور دپریتود ی» او «بیگاز» هم له نورو په څه کمې نه دی.

ماسټر صاحب په دې افسانو کښې دژوندانه یوه مکمله نقشه راښکلې ده. په دې افسانو کښې د کردارونو پیسه دوستی، د خودداری جذبې، دوطن مینه، دغریب پالنې احساس، داخلاص ایثار، قومی غرور، دژوند په لاره کښې زړور گامونه، د ټولنې د طبقاتی ټیټ اوهسك اوتوپیر په ضد مؤثو قلمی جد وجهد اوځینې نور گڼ کړه وړه هاغه انسانی اداکاری دی چه د ژوند په بیاوبیلو اړخونو اوپاټکو کښې څر گندیږی اوهم ددې ډول کردارونو دامتزاج دوهم نوم عملی اوحقیقی ژوند دی.

ماسټر صاحب په خپلو افسانو کښې داحقیقت ثابت کړی دی چه انسانی عزم اواراده هرڅه کولی شی په دې شرط که دد وی په شاباندې دعقیدې اوقربانی جذبه موجوده وی گڼې نو:

د همه بلاؤ سرتن اسانی ده،
خرڅاوه شی لټ غوایه په قصابانو

ماسټر کریم نه یوازې د قلم په څوکه دفطرت څېره کښی اودخپلو رنگینو خیالاتو او گټو رو مفکورو رسام وبلکه د دوی دافکارو زغړ داو ژوند ی نقش تاسو ددوی دعملی ژوند په څېره کښې لیدلی شیء.

دماسټر صاحب عملی ژوند ډېر پاکیزه او اوستره و، که څه ددوی خپل لاسونه ډېر ډك نه وو خود تش لاسوسره مرسته کول یې خپل مقدس فرض گاڼه اودبې وزلوسره یې له هیڅ ډول اخلاقی اومادی مرستې نه تروسه وسه ځان نه ژغوره.

ماسټر صاحب دمړه خوایی اوعزم دا اندازو چه نه خود ژوند ډغرو او دبیگانه ؤ غلیمانه زور، ځورونې دده د عزم او استقلال ماڼی وخوځولی شوه اونه دده مړه خوانظرد طماعی په خواتېرشو.

ماسټر صاحب دقوم مجاهد، دقلم پهلوان، دډلې مدبر او محبوب مشر، دملگر وملگری، دهرچا خپل، په هرچامین اوتر هرڅه اوهر چازیات په قام اووطن مین، آخر لاړ داستعماری استبداد په مرسته دمرگ مهیب دیوراڅملاوه. د زمانې سپین سترگی طوفان دپښتونولی، قوم پرستی اوقلمی قدرت دافولادی غرونړاوه او داجل پرښتې ورته ور وغوندې په خوله لاس کښېښود.

اشنا به سرراپورته نه کړی
که وچې ونې زرغونې په اوښکو کړمه

(پای)

لیکونکی: علی محمد زهما

دروسو «طلایی عصر»

او دهغه کره کتنه

«هغه چاچه دلومړی ځل دپاره یې دیوې ټوټې ځمکې چارچاپېره دیوال راوګر ځاوه او اعلان یې وکړچه: (دغه ځمکه زماده) دتمدن دنړۍ حقیقی بنسټ ایښودونکی دی. اما که په دغه ترڅ کښې کوم بل سړی ده په مقابل کښې دریدلی وای او دهغه دیوال یې له بیخه ایستلی وای او غږ یې کړی وای چه دی یو ټګمار او عیار دی او خلك باید دهغه خوشې خبرې وانه وری دنړۍ ټولې چارې به له یوې مخې بې سراوسامانه شوې وای دجنایتونو جګړو اووینو تویولو اوربه په هر ځای کښې لمبې کړې وای .....»

روسو دفرانسې داتلسمې پېړۍ لوی متفکر دمساواتو دنشتوالې علت په دې ډول څرګنداوه.

داډول تفکر ډیر ساده بریښی- ځکه روسو دیوه انسان شرارت او بدنیتی دټولو خلکو دبد مرغۍ سبب ګاڼه او دبوبل سړی ښه نیت یې دټولو وګړو دهوساینې او نیکمرغۍ علت تصور کاوه لیکن سره له دې ددغه لوړ مفکر داندیښنو په پانو کښې یو څرګند او قاطع حقیقت دهر چا توجه ځانته راکاږی:

شخصی ملکیت دنه مساواتو دوهم وروردی. په لرغونو زمانو کښې کله چه دلو مړی کمیون بیرغ په هر ځای کښې رپېده- هیچا دنه مساواتو په باب فکر نه کاوه ولې؟ ځکه د هغوی دژوندانه په شرایطو کښې کوم داسې علت نه وموجود چه دهغې په اثر مجبور شوی وای چه دنه مساواتو په موضوع کښې فکرو کړی. ښکار کول او دکبانو نیول یو اځنی منابع ووچه زموږ نیکونو دهغو له لارې ژوند کاوه. دوی مجبور ووچه په ډیر وابتدایی آلاتو سره دطبعیت په مقابل کښې وجنګیږی. خلکو دکورنیو په حلقو Gens کښې ژوند کاوه. هغه آلات او ابزار چه ددغو کوچنیو حلقو په لاس کښې وو دهغې کورنۍ دټولو غړو مشترك مال ګڼل کیده. دکورنۍ له غړو (Gens) څخه دهیڅ یوه غړی سره دافکر نه وچه دغه آلات او وسایل خپل ځانته تصرف کړی او نور غړی دخپلې ګټې دپاره کوم کارته وګماری ځکه مریی له هغې اندازې څخه چه دده دپاره یې کفایت کاوه. زیات تولید نشو کولای.

کور نیو اوقبیلو به زیاتره دښو ځمکو اوښو ځنګلونو دنیولو دپاره دجنګ اورته امن وهله. کله کله به دوینو ددښمنی وحشیانه احساس هم د کورنیو اوقبیلو ترمنځ دجګړو اویوبل وژلو سبب شو. په دې جنګونو کښې به یې څوك بندیان نه نیول. مغلوبه کورنی اوقبیله به یې یاله یوه سره په توره وژله اویا به یې له مفتوحه ځمکو څخه بلې خواته شړ له اوپه ځینو وختو کښې به داسې اتفاق هم منځ ته راته چه له مغلو بواو مات شوو کسانو څخه به یې ځینې په خپله کورنی (یا Gens) کښې دغړو په ډول منل. یو ې قبیلې به بله قبیله له یوه مخې محو او نا بو ده کړه مګر داقدرت یې نه درلود چه مریې بې کړی په یوه داسې سیستم کښې دننه تسلط او غلبې یامریی توب ته ځای نه وپاتې.

رو سو ارغونې زمانې «طلایی عصر» بو لی ځکه چه په هغو وختونو کښې خودخواهی، حرص کینه، سبعیت او نور ټیټ اوناوړه هیجانات چانه پېژندل، دطبیعت ابتدا یی ماشو ما ن، دروسو په عقیده، خوښ اوخوشحاله وو او دطبیعت له خوراښو اوقیمتی سوغاتونو او بخششونو څخه یې چه آزادی اومساوات وو برخه درلود ه.

دروسو دغه فکرته ولتر چه دده معاصر و، داسې ځواب ور کوی. «**کله مې چه دروسو آثار مطالعه کړل، په دې فکر کښې ولوېدم چه دڅارویو په شان په څلور وپښو روان شم او ځنګل ته وتښتم.**»

دلته باید ووایو چه قبیلوی سیستم په هېڅ صورت «طلا یی عصر» نشی کېدای. ځکه چه دتولید ی قواوو دانکشاف ډېرې ټیټې سطحې اوثقافت دخلکو ګېډې نشوې مړولی. که څه هم په ابتدا یې ټولنه کښې مساوات مو جو د ووخو په هېڅ وجه هغې ته ایډیالی عصر نشوویلی.

دلو مړنی کمیو ن سیستم دمیلیونو کلونو دپاره د وام و کړ اوددغې ټولې دورې په تر څ کښې دتولید دقواؤ انکشاف ډېرورواو بطی و. هغه خلك چه په یوه وخت کښې په ټوله معنی پرجهانی تصور اتو او خیالاتو چه په مفهو م یې نه پوهېدل، متکی وو ـ قدم په قدم یې دهغې اسرار کشف کړل اودطبیعت قواوې یې د خپلې ګټې دپاره په کارواچولې. هر کله چه دتولید قواوو انکشاف وکړ اودژوندانه دتأمین نوی وسایل منځ ته راغلل د کاردو پشلو دپاره احتیاج اوضرورت احساس شو:

دڅارویو روزنه ـ کرهڼه ـ کسب اوتجارت چه د هغې په مر سته به یې موادیو تر بله مبادله کول دجلا جلا صنفونو په ډول څرګند یږ ی.

کله چه دکار آلات اووسایل اودکار مهارتونه

کمال تەرسیږی انسان ددې قدرت مومی چه لەخپل ضرورت نه زیات موادتولیدکړی .

دغه له خپل ضرورت او احتیاج څخه زیات مواد (مازاد) یې له نورو موادو او له یو ه مهم شی ـ؛ پیسو سره مبادله کول. له دغه انکشاف سره سم د کمیو ن په نړ ی کښې طبقه بندی شروع کیږ ی : د کمیو ن ځینې غړ ی په نېره بیاد جګړو د میدان پیاو ړی کسا ن او روحانیون بدایان کیږی مځکه ـ څاروی او د کار آلات اوابزار خپل لاس ته راولی اما د کمیو ن نادار او نشتمن غړی دپور تنیو دوو طبقو د پاره کار کوی او په تد ر یجی ډرل د هغوی مریونه کیږی . دغه انکشاف د جګړو مقصد ته بله بڼه ور کوی : له دې وروسته به یې د جنګ په نتیجه باندې داسې قضاوت نه کاوه چه څو تنه وژل شو ی دی بلکه په دې لحاظ به یې پو ښتنه کو له چه څومره خلك بندیان نیول شو ی دی .

وژل شوی دښمن د فاتح د پاره څه ګټه نه درلوده لیکن یو بندی او مریی کولې شو چه په خپل کار او زحمت سره دخپل بادار ژوند تاءمین کړی .

نو شخصی ملکیت له کو مې اتفا قی او او سیعی ارا د ې څخه نه دی زیږیدلی بلکه د هغو تو لیدی قواوو د انکشا ف نتیجه او محصو ل ګڼل کیږ ی چه د کمیو ن سیستم یې له منځه یووړ او د مر یی توب سیستم یې منځ ته را ووست : یعنې د تولیدی قوا وو د انکشاف په اثر طبقاتی ټولنه د بې طبقې ټولنې پر ځای کښینا سته .

په شخصی مالکیت او طبقاتی ټولنه پسې دولتو نه او سیاسی تشکیلات رامنځ ته کیږی چه دحا کمې طبقې له ګټو څخه حمایت کوی او استثمار کېدو نکی طبقه په محکو میت کښې سا تی .

د یوه دولت قوانین چه هغو ته انقیاد او اطاعت د نظامی قواؤاو جز ایی مؤ سساتو په زور عملی کېده ـ د مر یی او باد ار په طبقو باندې د ټولنې ویش ته یې قوت او استحکام ور کړ .په یوه دا سې اجتما عی نظام کښې مساعد فرصتونه او امتیازات د لوړې طبقې په برخه شول اما ښکته طبقې ته ملاماتو ونکی

مصیبتونه او نه مساوات چه د ما دی ژو ند له شرایطو څخه را پیدا شوی وو په بر خه ورورسېدل- خوندوره خبره خو داده چه دغه وضع یې د یوه بد یهی او طبیعی نظام په ډول اعلان کړه .

کله چه د لرغونی کمیون سیستم دمریې توب له سیستم سره پر تله کړ دوروستنی پېښه مترقی ده. د مر یې تو ب سیستم د تو لید ی قو ا و د ا نکشا ف مر سته وکړه او د خلکو د علم ا و ثقا فت سو یه یې لو ړ ه کړ ه . د مر ئیو نو کا ر او خولې تویول نه یوازې دهغوی دمالکینو د ثروت چینه وه بلکه د ساینس-ټکنا لوجی هنر او ثقافت د پاره یې لارهواره کړه. لیکن د ټولنې دغه ګټور او ضروری انکشاف منځ ته راتلل بې له دې چه ظلم او بیعدالتی څخه کار واخیستل شی ممکن نه و. دمریی توب سیستم د ټو لنې دنه مسا وا تو یو ه او ز ده دوره اعلام کړه .

دروهی لیکنه او څېړنه

سبک

[۳]

تراوسه د خلکو په منځ کښې دا خبره مشهوره ده چه وایی« هرمترجم خاین دی». که څه هم د مترجم مقصد به خدمت و ی نه خیانت مگر که هغه په ترجمه کښې هر څومره دامانت اوصداقت لحاظ وساتی، نشی کولی چه دبل‌لیکونکی دسبك ترجمانی او نمایندگی و کړی‌او د هغـه دسبك مختصات عیناً بلې ژبې ته ورواړوی .

آرتور شو پنهاور وایی، « کومه ژبه چه لیکونکی‌یې استعمالوی د هماغه ملت څېره ده»اودملتونوڅېرې‌او کړه وړه خوپه ښکاره ډول یوتربله تو پیرلری . دیوه لیکو نکی سبك که څه هم‌په فردی‌لحاظ‌له‌بل لیکونکی څخه متفاوت دی‌ځکه چه دهر شخص دژوند شرایط اوتجربې له هغه بل څخه اختلا ف لری، همدارنگه دثقافتونو دبېلوالی‌له مخې هم دلیکونکو سبك‌یوتربله توپیرپیدا کوی. مونږ ته دا کثرولیکوالوله سبك‌او ژبې‌څخه دهغه لیکو نکی چاپېر،اجتماعی جریانات ، ثقافت او دوخت روحیه جو تیږی . دژبې په هند ا ره کښې دثقافتونو ممیزې اوتوپیرونه په رو ښا نه ډ ول منعکس کیږی او سبك هم دژبې‌په رڼا کښې‌خپل هد ف ته ځان رسوی . سبك دژبې‌له چو کاټ څخه بهروجودنه‌لری بلکه د دغه چو کا ټ دننه دننه خپلې ښکلې اورنگینې تابلو گانې انځورولی‌شی. برسېره پردې چه ژبه دثقافت نماینده او ښکارندویه ده دخپل جوړښت اورغونې‌له حیثه هم دیوې بلې ژبې سره توپیرلری . اړوار ډسپیروایی « که څه هم دیوې ژبې غږیزښښت یوله هغو وجوهاتو څخه شمېرل کیږی چه دخپل ا ب لوری اوجهت تعیینوی لکن فورمولوژیك خصوصیات ډېر مهم دی . دیوه سبك دتکامل د پاره دا خبره ډ ېر فرق کوی چه یوه ژبه مر کب کلمات جوړولی شی که‌نه، آیادهغې جوړښت‌تر کیبې بڼه اری که تحلیلی، آیا په جملو کښې کلمې آزا دانه وضعیت لری که مجبور ې دی چه په یو ه معین تار کښې پـه سختی سره وپېل شی ... »

هغه کنایي او استعاري چه دمترادفو کلمو په استعمالولو سره په یوه ژبه کښې منځ ته را تلای شي ، کله چه یوې بلې ژبې ته اړول کیږي خپل ادبي لطف او شکلاله لاسه ورکوي .

په تېره بیا دیوې ژبې لفظي صنایع او بدایع په ترجمه کښې له منځه ځي. دمثال په ډول دالفت دالاندې رباعي و ګورئ :

له کوم لوري را روان یوجها نګر دو
مخ اوڅټ باندې بې پروت دلا رې ګر دو
ماوې څه دې ولیدل په دې جهان کښې ؟
ویلې دو مره شومه پوه چه جهان ګردو

دلته خبره په وروستي (ګرد) کښې ده او همدغه کلمه ده چه شعر ته یې ارزښت ورښلی دی. دا کلمه دووحقائقوته اشاره کوي: یودا چه (جهان ګرددی) یعني ځمکه کروی ده یا په جغرافیوی اصطلاح (ژه وئید) شکل لري دوهمه معنی یې داچه جهان له خاورو او ګردونو څخه جوړشوی دی . که څوك په انتقاد کښې له ډېرې تنګې نظرې نه کاراخلی او ووایی چه دنیا خو ټوله له خاورو څخه نه ده جوړه شوې بلکه کاڼي اوفلزات هم په کښې شته، بیاهم داشعر تراعتراض لاندې نه راځي ځکه چه شاعر دجهانګردروحیه ترسیم کړې ده . دګرځند وي پرمخ اوڅټ چه دوړې او ګردونه پراته وو ، حتماً به له هغه سره داتصورپیداشوی وی چه :اوه! داڅومره دوړې او ګردونه دی، بل څه نشته خو ګرددی.

اوجهان ته به یې په اصطلاح «له خپلوعینکو» کتلی وی . اوس نو که دغه شعر دنړۍ په کومه بله ژبه واړول شي (چه هلته دګرد لفظ همدغه دوې معناوې نه لري) خپل ادبي کیف یې پرځای نه پاتې کیږي اودغه ګلبوټی به په هغه محیط کښې دوه ډوله ګلان ونه نیسي.

همدارنګه سبك له ادبي واسطې سره سم تغییر کوي . دشعر دپاره (که غنایي وی که قصیده یاحماسه) ډراماتیك سبك استعمالیږي او نثر (مقاله یا رساله) په ناو لستیك سبك لیکل کیږي .

خلرم ډول سبك : هغه دی چه د خپلې موضوع په نوم یادیږي لکه قانوني، تاریخي، علمي ، فلسفي، کومیك (خندو ونکي) ، تراجیك (ژړوونکي) ، مراثي (ویرنی) او تعلیمي چه هریویې دخپلې موضوع په نامه مشهور دی .

یوویونکي یالیکونکي په مختلفو موضوعاتو کښې یو ډول سبك نشي استعمالولی بلکه

باید له موضوع سره سم یو منا سب سبك انتخاب کړی. کهموضوع خندوونکی وی بنایی چهظریف اوخوشحالوونکی الفاظورته انتخاب شی، کهژړوونکی وی باید چهپه رقیقو او زړهخوځو ونکو الفاظوا فاده شی. که یو لیکونکی دتعزیت دپارهدمړی خپلوانو تهتوکې اوټکالې ور لیکی، دمړی خپلو ان بهدا ډول همدردی په سپکاوی تعبیر کړی. که یوخطیب هغه سبك چه دمنبر پرسر یې پهډېر شداو مد استعمالوی، له یود کاندارسره دسوداا خیستلو پهتړخ کښې استعمال کړی، دکاندار به پر هغه داحمق گمان وکړی اویابهتصورو کړی چه ښاغلی خطیب لهماسره ټوکې کوی.

پنځم ډول سبك: هغهدی چهدیوه جغرافیوی موقعیت پهنوم یادیږی لکه کلیوالی، ولایتی، برونکس. نیوانگلینډی، منځنی لویدیځ اوداسې نورپه لرغونوادبی فنونو کښې اکثرسبکونه په همدې ډول تصنیف شوی دی لکه (Attic)، (Rhodian)، آسیایی په تېره بیا دپارسو پخوانی سبکونه معمولا دجغرافیوی محیطونو پهنوم شهرت لری لکه خراسانی سبك، عراقی سبك، ترکستانی سبك اوهندی سبك.

هرمحیط (که طبیعی وی یا اجتماعی) دخپلې اجتماع پرسبك اوادبی تمایلاتو باندې اغیزه کوی. دمثال پهتوگه بهدفا رسی ژبې هندی سبك راواخلو چهڅنگه لهخپل ماحول څخهمتأثر شوی دی:

دهند تاوده اوسمسور محیط دهغه ځای خلکوته نرمه او ملائمه روحیه ور ښلې ده هغوی دسر سختی، تشدد اوتیری پرځای خپل ځانونه نرم خوینی، خیال اوسر نوشت تهسپارلی وو اوله همدې امله دهند یانو دژوندپه ټولو اړخونو کښې دتخیل، نزاکت اولطافت خوښولو مظاهر زیات لیدل کیږی. دهندمذهب، موسیقی شعر او دژوند فلسفهپهډېر پروښکلو خیالاتو رنگینه شوې دهاوپه نتیجه کښې دد ې ملك ثقافت لهلطیفه فنونو، مجسمه جوړولو. نڅا، موسیقی، شاعرانه سندرو، با دوګری اوداسې نورو ښکلو او رنگینو خیالاتو څخه غنی شوی دی. دهند ادبی آثار، فولکلور، اجتماعی روحیه اوقصې دخیال پهوزرسپږیزی اوهرڅه تقدیراوسر نوشت فیصله کوی. یومین ځلمی چهدخپلې مینې دمینې پهاور سوزی، یو غیبی لاس راځی اوله خپلې معشوقې سرهیې یوځای کوی، یوبل غریب اونداره سړی پهلاره خزانه مومی اوشتمن کیږی، یوبل هلك چه دشهرت لوړبامته خیژی هغه ټول دپیر اومرشد دعاء

برکت دی. په داسې حال کښې چه په نسبي ډول دلویدیځ ادب هره پېښه دیوه ټاکلی پلان، نقشې او دطبیعي قوانینو په نتیجه کښې منځ ته راځي. هلته تقدیر او سرنوشت ډېر دزیاته مداخله نه کوي او په هرڅه کښې لاس نه وهي، لویدیځ قهرمان معمولاً یو بشري قهرمان دی او دهندي قهرمان په شان په هوا نشي الوتلای، د کوه قاف له ښاپېر وسره واده نه کوي، په یواځې ځان لوی لښکر ته ماتي نشي ورکولی لنډه یې داچه دهندي سبک خصوصیات دهند په فني میراث، فولکلور او محیطي شرائطو او عواملو باندې متکي دي. په دې سبک کښې دتخیل قوت دالفاظو نرمي، ښایست او نزاکت خپل ځان په صراحت سره ښکاره کوي.

البته پرادب او ادبي سبکونو باندې دمحیط اغېزه یو منل شوي حقیقت دی. هېڅ ډول ادبي سبک له خپل محیط څخه دباندې نشي وتي ترڅو دهغې جرړې او ریښې په خپل ټاټوبي کښې نه وي خورې شوې. داځکه چه ادب کومه اسماني تحفه نه ده او نه شاعر له خپل محیط څخه لوړ او ملکوتي مقام لري داپلاتون داخبره چه «شاعر دوزرونو خاوند دی» له مبالغې څخه ډکه ده او حقیقت نه لري حتی دوزرونو خاوندان هم داو بو او دانو او دفزیکي ضرور یاتو په لومه کښې نښلي.

خواجه حافظ خوشې ځان ستړی کوي چه وایي:

غلام همت آنم که زیر چرخ کبود
زهر چه رنگ تعلق پذیرد آزاداست

دیوه شاعر دپاره ډېر ښه الهام هغه دی چه له محیط څخه یې واخلي نه دشعر او هنر دموهومې آلهې څخه.

شپږم ډول سبک: هغه دی چه خپل نوم دمخاطبینو له طبقې څخه اخلي لکه ساده، ولسي او عامیانه سبک چه دیوې ټولنې عام خلق پرې پوهیږي، مؤدب یا اشرافي سبک چه ددربار او مهذبو کسانو دحال مقتضاوي، کورني سبک چه دخپلوانو، اشنایانو او کورنۍ په مقابل کښې استعمالیږي.

اووم ډول: سبک هغه دی چه دیوه ټاکلی هدف او مقصد په نوم یادیږي مثلاً احساساتي سبک چه لیکونکي دهغې په وسیله دخپلو مخاطبینو احساسات او هیجانات په خوځېدو راولي، کنایه لرونکي سبک چه غواړي دمقابل طرف غاښونه تېز کړي، ډېلو ماټیک سبک چه لیکونکي یا ویونکي په نرمه او دوستانه لهجه خبرې کوي او دهغې په مقابل کښې لوستونکي یا اورېدونکي دخپل فکر دکلا دروازې دروغبړ او صمیمیت دپاره پرانیزي، لوړ یا مجلل سبک چه لیکونکي دهغه په وسیله مقابلې خوا ته تکنیکي یا اخباري معلومات ورکوي، دخپل ټاکلي او مشخص هدف په نوم یادیږي. (نور بیا)

لیکونکی : لو هسون (دچین دادبیاتو پلار)

«دافق» ترجمه .

سوالگر

دیوه‌خورا زاړه دیوال په ځنګ کښې راتېرېږم ـ کوڅه‌له‌خاورو ډکه او مټ هم و بوجولګوته راپورته سوی‌دی .

یوڅه‌نور خلك هم پرها بله خوا باندې تېرېږی ـ اوخورا یخ‌شمال هم‌شروع‌سوی‌دی . ددیوال پرها بله خوا یوڅو لویې او جګې ونې‌ولاړې‌دی چه‌ښاخو نه یې ودې خواته راکاږه سوی اوپاڼې‌یې‌زموږ پر سرومو ښلې.

یویخ شمال چلیږی ـ اوپه هرځای کښې مټ‌پروت دی .

یو سوالګر چه څیرې څیرې کالی یې اغوستی‌دی په‌خورا خوابدی چه‌تندی یې هم تریونیولی‌دی‌خیرات راڅخه غواړی .

ماچه‌دده بې‌ډوله‌بز غ واو رېد ـ خور امې کرکه ځینې وسوه ـ اود هغه له‌وضیعته‌څخه مې‌ډېر بد راغله ـ ماویل‌چه ګوندې لو بې کوی نومې لارځنې چپه کړه او پر بله خوا ولاړم .

زه‌پرخپله تېره‌رهی‌یم . یوڅونور خلك‌هم روان‌دی.خورایخ‌شمال چلیږی . سوالګر چه کالی یې‌هم‌برانګې‌برانګې‌دی‌خور ایې خوابده ده‌او خبرې‌هم‌نسی کولای ځکه چه ګونګی‌دی . نویې‌ماته‌لاس راوغځاوه‌او ګړې برې‌یې‌راته شروع کړې.

ماچه‌دده تګماری ولیدله ـ خو را مې بد ځنې‌راغله ځکه‌په‌پوه سوم‌چه‌ګونګی‌نه‌دی‌او په‌دغه چم‌پیسې ټولوی .

زه‌هیڅ پیسې‌نه‌ور کوم اونه مې داارزوده چه‌زده دې وده‌ته یوپول لاهم ورکم ـ نومې هغه خلك چه، خیرات اونیکی کوی را په‌یاد سوه‌او پرددمې‌ډېر نیت‌بدسو . خورامې‌سترګې ور ته پټې سوې او خورا مې بدځنې راغله.

ددیوال ځنګ‌مې‌رااخستی‌دی، چه خورا نرېدلی اوټکرټکر دی.ماتې‌خښتې ، خاورې اولوټې خوراډېرې پرتې‌دی ـ اما ددیو اله‌په اخواهیڅ شی نسته.

یو یخ شمال چلیږی، چه زمنی هواهم لنډه کنډه
په پسې ده خاوره اومټ هم هر چېرې پروت دی .
ماچه ددې سوا لګر وضعیت ولیده نو حیران
سوم چه زه به څنګه خیرات ټولوم او په څنګه
آواز به خبرې کوم ددې دپاره چه زه ګو نګی
یم څه ډول اکټ باید عملی کړم .
یو څو خلك تېریږی . . .
زه به هیڅ رحم پر ونه کړم او نه مې دا آرزو ده
چه زه دې څه ور کړم ځکه چه . . .

هغه خلك چه خیرات ور کوی دهغو څخه مې هم
ډېر بدراځی او ښه مې نه ایسی ځکه چه . . .
زه مجبوریم چه په خوراچپتیا او آرامی سره ګدایی
و کړم خو په دې پوهېږم چه هیڅوك به هېڅ
رانکړی . هغه چم چه وو هغه ده را څخه
نیولی دی .
څو نور خلك تیریږی . . . لا تېریږی . . .
خاوره اومټ، خاوره . . .

د کابل مجلې دچلوو نکی په غو ښتنه

دثقافة الهند څخه د و ا سعی تر جمه

په هند کښی فنی زړه بو لګه

(دا هغه کنفرانس دی چه ډکټور ـ ب تشابراد هند دلرغو نتون داداری مر ستیال له خوا په نوی ډیلی کښې د هند دثقا فتی مجلس په غو ښتنه ایراد شوی دی .)

زما دپاره دویاړ خبره ده چه په یوه داسې هسکه غونډه کښې پریوه مهمه موضو ع چه په هند کښې فنی زړه بو لګه ده، وینا ته رابلل شوی یم. موږ په هند کښې تن ورځ دټولو فنونو په ژوند ی کولو کښې کوښښ روان وینو او د سیاسی خپلوا کی دحاصلولو له ور ځې را هیستهٔ زموږ پر خپل لرغونی اوزاړه ثقافت ډیره رڼا لویدلې اوزمو ږ معلو ما ت پکښې زیات شوی دی، او ددې طبیعی نتیجه داسو ه چه موږ د خپل زاړه ثقافت د ژو ندی کو لو د پاره هغو مره بیړه کوو چه دنړۍ دنو رو هغو مللو سره سیالـی و کړو کوم چه خپلواك دی او انکشاف ئې موندلی دی. موږ ته دانه ده لازمه چه پریو تلی اوله نظره لویدلی فنون به یوازې ژوند ی کوو، بلکه داراته ضروری ده چه هغهٔ به داسې پالو چه دنوی ژوند دمعیار او د اوسنیو شرایطو سره توافق ومومی په داسې تصمیماتو کښې موږ دااحساس کووچه زموږ دپاره ترټولو ښه لارښوونه، زموږ ښکلې ماضی او شتمن زوړ تاریخ دی کوم چه پر د یـو مؤرخینو پر هغو خبرې کړی دی. نوموږ باید ترشا اووروسته وګورواو داخبره ملاحظه کړو چه زموږ په هیواد (هند) کښې پخوا فنو ن څه ډول اوپه څه توګه وروزل شوه ـ اوله کومه ځایه څخه ئې الهام واخیست او چیر ې ئـې تشجیع او حمایه وشوه.

دفن بنسټ اواساس ښکلا (جمال) ده لکه څنګه چه ښکلا دطبیعت اساسی برخه د ه.

په دې موقع کښې د سنسکریتی ژبې هغه شعر راپه زړه کیږی چه وائی:

«هغه ذات چه سپینه بته ـ اوشین توتی ا و رنګین طاؤس ئې پیداکړی دی ستا پرساتنه قادردی.»

داشعر موږ په دې پوهوی چه انسان ته ددې خبرې هیڅ باعث نه دی موجود چه وارخطائی

وکړی یادې په ژوند کښې خواپوټه شی ځکه دڅښتن تعالی مهربانی ټول بشریت او ګرده مخلوقات پخپله غیږ کښې نیولی دی. خواوس دلته په کاردی چه سړی دې خبرې ته ملتفت شی چه شاعر څنګه هغه خدای ته اشاره کړې ده چه سپینه بته زرغون توتی اورنګارنګ طاوس یې پیدا کړی دی، ددې بیت تر شا یوه بله پټه معنی پرته د. او دا معنی یو مهم فلسفی اهمیت لری هغه دا چه :

سپین (Sattva-guna) او سور او زرغون (Rajo-guna) او تک شین او تک تور (Tama-guna) ته اشاره ده. او دادرې صفات یعنی (trigunas) د (Prakrit) طبیعت د هغو وظیفو نمایندګی کوی کومې چه د Purusha لوی اوستر خدای ترامر او پاملرنې لاندې اجرا کیږی اوزموږ څخه دبګو د ګیتا (Bhagvad Gita) دسلطې اوواک په باب کښې دا شعر موجود دی :

May-adhyakshena Prakritih
Suyatesa-char-acharam

«سره دې چه زه دموجوداتو دپاره دهسک او اعلی خدای غوندې یم بیاهم طبیعت دا موجوده نړی اوټول ژوندی او بې ژونده شیان پیدا کوی» ممکنه ده چه موږ په اردو یا په هندوستانی ژبه داسې ووایو : دانړی موږ ته دا راښئی چه قادر پرهرشی قدرت لری.

زه په دې خبرې لږ څه له مقصده څخه واوښتم، بخښنه غواړم. خوداددې دپاره ماو کړه چه دا څرګنده کړم چه طبیعت تر ټولو ښه فنان دی. موږ ته دا معلومه ده چه دده لاس تل دښکلا دښوښو اوزړه وړونکو ښو اوشکلونو په ایستلو اخته دی لکه پر پړانګ یا ګوره خرچه کرښې را کاږی. اوموسی چه ټکیالی کوی. اوغوایی اوصحرائې غوا او اوښ ته چه ئې بوک ور کړی دی، همدغه ډول ئې راز راز ګلان اوډول ډول فرشو نه او بوراګان پیدا کړی دی. په همدغه شان موږ فنان (هنرمن) په انسانانو کښې (چه دی پخپله هم دطبیعت مخلوق دی) وینو چه د طبیعت پر ګام روان او قدم دده پر قدم ږدی نواوس داپوښتنه منځ ته راځی چه فن څه شی دی.

فن چه په لویه معنی موږ فهموو عبارت له هغه بشری ربړ او کوښښ څخه دی چه انسان ئې دښکلا او جمال دایجاد او خلق دپاره کوی. اودهمدغه جمال په واسطه موږ دیوه فنان مؤفقیت اندازه کوو چه دی دښکلا په راایستلو کښې طبیعت ته څومره ورنژدې شوی دی داسې ډیر

سوی دی چه موږ دیوه ښه اس یادیوې ښکلې کونډالې (ګلدانی) درسم په لیدلو وایو چه: «کټمټ ژوندی اس دی اولکه اصلی کونډاله اودرښتیا ګلان چه وی» بله پلا چه موږ دطبیعت په اشکالو کښې یوه ښکلا اوښکلی شی ووینو زیاتره یې فن ته ور نژدې کوو مثلاً موږ چه د کو کنارتك سپین غوړیدلی ګل ووینو اوښکلی راته وایسی نودهغه ګل سره یې تشبیه کوو لکه یوز ګرچه سپینو زروڅخه په ډیر مهارت جوړ کړی وی.

کله چه دیوه هلك سره بارخوګان ووینو هرو مرو داخبره کووچه: «هلك دصحت یوه نخښه ده» په همدغه ډول موږ د ځان اختیار نه لرو اوهروخت که یوه ښکلا ووینو چه د طبیعت دلاس نخښه وی نودیوې ښکلی تابلواو درسامی دیوې لوحې سره تشبیه ور کوو ـ او که دانسان دلاس یوه ښکلی نخښه ووینو طبعاً موخولې ته داراځی چه: «بیخی طبیعی اوژوندی شی دی» ددې څخه داڅر ګندیږی چه دطبیعت ښکلااو دانسان فن ډیر سره نژدې اویو وبل ته څرمه دی. فن هغه وخت ځلا اوښکلامومی چه امن اوارامی، پراخی، نیکمرغی ـ اوښه نیت او خواخوږی وزرونه خپاره کړی وی. سړی چه په نس موږسی اوداړې څخه ووزی ـ ضروری حاجات یې ترسره اوقلباً ډاډه شی، نویې مخ دښکلاوخواته راوګرزی. داځکه چه دی ځان په ښکلا کښې ډوب اوخپل شاوخوا ته دښکلااحساس کوی ـ اوپه هره توګه چه وی دایې زړه غواړی چه دخپلو خوږواو خوندورو مشاعرو او اند یښنو څخه تعبیر وکړی، داتعبیر اواظهار کله دنڅااو کله دغاړې او کله دنورودغسې شیانو په بڼه وی. له همدغه ځایه څخه سړی ویلای شی چه رسمونه اومجسمې دانسان لومړی تکل دی چه ده دخپلو ښکلومشاعرو اوخوږواندیښنود دائمی کولودپاره کړی دی. دده د اتکل په دې اراده نه دی چه پخپله خوښی اوښادۍ کښې یوازې خپل عصرو ګړی او خپل همزولی شریك کاندی بلکه کوم وګړی چه تر ده وروسته دمځکې پرمخ پیدا کیږی اونړی ته راځی باید د ده په خوښی کښې ګډون ورسره وکړی، اوبرخه پکښې ولری ـ خوداحسابی مسأله ډیره عجیبه ښکاری چه غم دنوروپه ګډون پرسړی نیمی کیږی او ښادی یوپه دوه کیږی.

دالازمه ده چه هغه لومړنی انسان چه په زړګونو کلونه یې خوراك دښکارغوښې ـ او کور یې دغرونو سموچونه وو، وروسته دیوه څورب ښکارتر لاس ته راوستاو اود خپلې ګیډې تر

ډ کولو، دخوښی دمحیط احساس اودخوشالی شعور کاوه چه دده دغه محیط اوشعور تعبیرات موږ ته په انځورونو ـ رسمونو اودغرونو پرلانبونو د کنستلو په توګه راپاتې دی چه دنړی په هر ګوټ اوپه هند کښې هم موږ د دغه قسم فن د بقایا ؤ څخه یوه برخه لرو .

زموږ مقصد دا نه دی چه دهند دفنونو په اصلی تأریخ یاد فنونو په تطور کښې وږغیږو بلکه موږ دا زمه بولو چه داوګوروچه فنونو هلته څنګه وده و کړه او کله سره وښوریدل اوترکیې وواهه ، دادی په دغوز مانو کښې دعبادت هغه ورځې دی چه (دسهره) یې بولی اوپه دغوا خترونو کښې قومی فنون ډګرته راوزی ؛ بالاخره نتیجه ور کوی او پلو رل اوپیرو دل مومی ،لوښی شیا ن او د آ لهه و اود شیطا نانو اشکا ل اود ځا رو یو بـنې جوړیږی اودا ټول په ښکلو قسم قسم رنګونو رنګه کیږی . داشیان په ښارو نو او کلیو دواړو کښې پیدا کیږی، په زیاتره ځایو کښې دنندارو اوړامو مجلسو نه جوړیږ ی دالاڅه چه خلك خپل ځایونه او کو رونه دډول ډول ځارویو او نورو فرضی مخلوقا تو دصو رتو نو په ذریعه اوپه قسم قسم انځورونو ښکلی کوی چه داټوله پرته له دې چه فن اودفرد تولیداتو یوه ننداره او څرګندونه بلل کیږ ی بل هیڅ نشی ورته ویل کیدای .

همدغه ډول مو زپه ستر ګو ورته ګو رو چه په فنونو څه ډول ګوتې وهل کیږ ی او دا رامعلومیږی چه دپلورلو اوپیرودلو (عر ضه اوتقاضا) دود (قانون) دلته څنګه پوره تطبیق مومی ـ دغه رنګه دلته دې ته اشاره په کارده چه دفنونو دپیدا یښت لومړی باعث هغه لوبې دی چه هر قوم اوټبر یې ځانته لری او په خپلو مذهبی ورځو کښې لکه اخترونه خپل وخت په تیروی دااختر ونه سره د خپلو زړو لرغونو رسم او رواجونو دزرګونو کلونو څخه باب اورواج وه، چه دهند زاړه اکتشافات اولرغونی نخښې چه همدااوس په هر ګوټ کښې را برسیره کیږی د همدغو نتیجه ده لکه دا سـمدستی چه په زرګونو دخاورو څخه جوړسوی لوښی شیان اومجسمی او رنګه او ښکلی بلو ری لوښی چه دما قبل التاء ریخ یادتاءریخ دلومړنیو پیړیو محصول بلل کیږی، موندل سوی دی چه دې ټولو څخه دقومی فنونو پوره ترویج په هغه وخت کښې څرګندیږی .

هندی دود اورواج په (٦٤) ډولو فنو نو پورې منحصردی ـ خوددې فنونو کته ګو ری ترپنځو فنی نو عو لاندې ممکنه ده چه هغه

مو سیقی-شعر-دتعمیر فن- کنستل او انځور (رسم) دی.

یعنی داممکنه ده‌چه کمکی فنون لکه نڅا، دزرګری اوسینګارولوچارې په دغو پنځولو یو کته ګو ر یو کښې را ولو. اودافنون خپل جګ سرته په‌هند کښې هغه وخت ورسیدل کوم‌چه دهند په‌تاریخ کښې په طلا ئی عصر مشهور دی‌یعنی دګیتا په‌عصر کښې،هغه‌ګیتا چه‌ابتداء یې دبعد ا لمیلا د د څلرمې پیړۍ څخه‌شروع کیږی‌او پای‌ئې تقریباً دبعد المیلاد پراوومه پیړۍ تمامیږی. په دغه عصر کښې مشهور شاعران لکه کالیداس او نقاشان او رسامان‌موجوددی کوم‌چه‌زښته‌ښکلی انځورونه ئې داجنتا په‌سمو چونو کښې یائې پرسرپی لو حولیکونه‌لیکلی دی اودا څرګندوی چه ښکلی فنون په‌تیره‌بیا د ودانۍ او کنستلو او انځورولو فنو ن هم په ځا نځا نی ډول هم دسوداګرو دطبقاتو -اوهم د ټولګیو له خوا داسې تشجیع اوحمایه کېده لکه دحاکمې طبقې اواشرافواوشاهی کورنیو له‌پلوه چه‌به دحمایت په‌سترګه ورته کتل کیده.

په ې ترڅ کښې ځینې نخښې لاس ته‌راځی چه‌دموسیقۍ د آلاتو لرګی هم په هغو کښې سته‌اوددې څخه‌داښکاری‌چه‌وګړو د موسیقی سره زښته‌مینه درلوده -اوبل دا چه هو ر ې یو عام عادت موجود وچه هغه په درمسالونو کښې دناڅیدو نکو ښځو ټولګی وې. دغو رقاصو به‌خدایانوته‌رقصونه کول‌او په‌عین‌حال کښې به‌سازونه هم ورته کیدل- موږ بایددې خبرې‌ته هم اشاره وکړوچه‌په هند کښې‌دین دډیرو نشاطونو لورته یوقوی محرك واودهند په‌دینی کتابو کښې داسې لنډې ویناوې سته چه‌ددینی نخښو او معبدونو پر جوړولو هڅه ور کوی.

داخبره موږ ته‌په‌واضح ډول څرګندیږی چه په تیرو سلو کلو نو کښې چه زاړه آثار اولرغونې نخښې رابر سیره کیږ ی ز یا ته بر خه ئې دینی رنګ لر ی لکه معبد و نه اودرمسالونه- رواقونه- دمعبو د ا نومجسمې اوهمدغه رازنورشیان .غیرله دینی‌شیانوڅخه نورې نخښې خورالږ رابر سیره کیږ ی چه په سلو کښې لس با ید و بلل شی. موږ چه دفنونو د ځلا ابتدایی تاریخ په لرغونی هند کښې‌لټوونوموږ ته‌دهغوښکلوڅارویو مجسمې لاس ته‌راځی‌چه‌دهارابی آثاروپه مناطقو کښې مونده‌کیږی- همدغه‌ډول‌ژړینې‌او ډبرینې مجسمې مومو چه دهمدغه عصرد نخښو څخه بلل کیږی- دا عصر له قبل المیلا د څخه

(۳۰۰۰-۲۰۰۰) کاله دمخه دی. په دغه عصر پورې سمدستی د فترت یوه اوږده زمانه راځی چه موږ د فنونو د نخښو عظمت نه پکښې وینو. داچه تاریخی عصر په هند کښې له کومه وخته را نیول کیږی باید ووایو چه ابتدایې دموری کورنۍ څخه چه د قبل المیلاد په څلرمه پیړۍ کښې ده را اخیسته کیږی. موږ یوه ډېرینه لیکنه موندلې ده چه نیټه یې (Rudraman) ته رسیږی. دا سړی د قبل المیلاد په دوهمه پیړۍ کښې د سکا د کورنۍ څخه حاکم دی چه د سوراشترا په جونا ګړ کښې پیداسوی دی اوله دې څخه موږ پوهیدای شو چه تشندرجبتا چه دموری کورنۍ مؤسس دی یولوی ډنډ یې په جننا ګره کښې جوړ کړی چه اوس د Girnar په نامه مشهور اوجونا ګړ ته نژدې دی. د اډنډ Sudarsana نومیده اومعنی یې ښکلی شکل دی.

په هغه لیکنه کښې چه په ډېره کیندل شوی دی داهم ویل شوی دی چه په خپله همدغه ډنډ دی چه دتشندرجبتا دلمسی اشوکا په عصر کښې یې د ښکلولو چارې پای ته رسیدلی، اودروازې ور کړی شوی دی اووروسته په لیک کښې دا هم راځی چه دا ډنډ د رود رامن په عصر کښې دخورا سختو اوشدیدو او رښتونو په واسطه وران شو او رود رامن دو همه پلاسر د سره تر پخوا ښایسته او ډیر ښکلی جوړ کړ څود: Sudarsana پر ځای د Sudarsantara یعنی د ډیر ښکلی شکل نوم پر کښیښوول شو پر ډېره د هغو مهند سانو نومونه هم لیکل شوی دی چه داډنډ یې جوړ کړی دی. د غه رنګه د دې حوض تفصیلی بیان موږ ته داهم را ښئی چه د حوض ودانی دعمومی اوولسی چارویوه ستره نخښه اوددغه پادشاه په زمانه کښې دمعمارۍ دفن یو څرګند اوواضح مثال و. اودجبتاد کورنۍ دحاکمانو څخه چه سکند جبتا نومیده په پنځمه پیړۍ کښې په سرسره په همدغه حوض لاس وهلی دی اوداموږ ته دهغې لیکنې څخه را معلومیږی چه پر همهغه ډېره کښل شوې ده. د جونا ګړ پر پاڼ درې مهمې لیکنې سته چه لومړۍ یې په پالی ژبه داشوکا لیکنه ده، دوهمه لیکنه درود رامن د عصر لیکنه ده چه پر ډېره په نثر اودسنسکریت په ژبه کښل شوې ده اوبل انځوردی چه دسکند جبتا په عصر کښې په سنسکریتی شعر لیکل شوی دی. په همدې اساس موږ ویلای شو چه Sudarsana نومی حوض ډیره اوږده زمانه یعنی (۱۰۰۰) کاله اقتصادی خدمت کړی دی. د تشند جبتا

د کورنۍ د نخښو څخه په موری عصر کښې چه ډېر شهرت یې موندلی دی دده هغه ماڼۍ ده چه د پاتلی پتراپه پلازمینی یا په اوسنی پټنه کښې د بهار په ولایت کښې ده - د دې ماڼۍ څخه اوس تش اتیا ډبرینې ستنې پاته دی چه د تشندر جبتا د اشو کا څخه په ټول هند کښې هر چیرې ډیرې نخښې د خوراښکلو ډبرینو ستنو - او د کلا ګانو او بودایی در مسالونو او نورو شیانو په بڼه وینو - په دغو نخښو کښې ډېر مهم بنارس ته نژدې Sarnath او بل سا نتشی دی چه ودې شاته نژدې پروت دی .

وروسته تر موری کورنۍ موږ د Sungas کورنۍ او ورپسې Andhras کورنی او بیا د Kushanas کورنی او وروسته د Gupat s ټبر وینو او دا هغه کورنۍ دی چه فنون یې د دې جهته پالل چه شاهی شخصیتونو به یې روزنه کوله .

د پادشاها نو د حمایې په پیروۍ دوګړو له خوا د فنونو پالنې تر ډېره پوری دوام ومونداو د دې مقصد شاهد هغه انځورونه دی چه پر ځینو نخښو لکه Bodh-Gaya او Bharhut او Sanchi او Mathura او غیر له دې چه په نورو ځایو کښې لیدل کیږی د Gupta په عصر او تر دوی وروسته د هند په قطب او سهیل په لمر خاته او لویده کښې ځینی وا کولې کورنۍ وینو چه د فنونو د حمایې او روزنې له پلوه په سیالۍ سره لویدلی دی او مهمې یې Vakatakas او Mankharis او Pallavas او Cholas او Gangas او Palas او Gurjars او Pratiharas او Parameres او Gajapalis او Chandellas او نور دی په اجنتا، ایلورا، الفنتا، بادامی، کانچی، مهابالی پورام، تانجور، مدورا، بوبانیسوار، پوری، کناراك او کهاجوراهو او غیر له دې په نورو ځایو کښې هم موږ وینو چه د دوی نومونو ته په درنه سترګه کتل کیږی چه د هغو څخه د کشمیر په Lalitaditya او Antivarman کښې دی دا ځایونه د هغو معبدونو په شمیر پورې ارتباط مومی چه هغه په Avantipurr او Martand کښې ډېر مشهور دی .

د Pamara Bhoja نوم د ښکلو فنونو او په زیاته بیا د شعر په حمایه او ساتنه کښې د مشهورو اساطیرو په نومونو کښې یاد شوی دی .

د شعراؤ د حمایې او پالنې له پلوه د (سخایه) نوم په ډیرو قصو کښې را غلی دی او زیاتره اساطیر یې پیژنی - یعنی په هند کښې د فنونو دودې او پالنې د استر حرکت او نشاط سر د قبل المیلاد د څلرمې پیړۍ څخه را شروع کیږی او (۱۵۰۰) کاله په مطرد او لاینقطع ډول دوام کوی څو وروسته د سیاسی پیښو او تشویشونو له کبله هغه بحرانی حالت پیښ سو چه د هغه نتیجه یو لوی اضطراب و. تر اوسنی نوی نهضت څخه وړاندې د فنی ستر نهضت پر له پسې فرصتونه او موقعیتونه پیښ سوه چه زه په راتلونکو مقالو کښې له دغو فرصتونو څخه وږغیږم. ﴿پای﴾

الفت

دروسي ژبې لنډ درسي کتاب

په دې نامه دنینه پوتاپو وا یو کتاب په مسکو کښې دخارجي ژبوداد بیاتو دخپرولوځانګې چاپ کړ چه محرریې کونستانتین لیبید یف او ترجمه کوونکې یې پیغله لودمیلا یاخیویچ اوښاغلی عبد؛ للطیف جلالی دی .

دې کتاب دروسي ژبې زده کړه دپښتنو او پښتو پوهیدو نکو د پاره ډېره اسانه کړې بده . په دې وخت کښې چه دافغانستان او داتحادشوروی دوستانه تعلقات ورځ په ورځ وده کوی نود دواړو هیوادو خلقو ته یو دبل په ژبه پوهیدل یومهم ضرورت دی او دغسې درسي کتابونو ته ډېر لوی احتیاج لیدل کیږی.

دروسي ژبې زده کول سر بیره په دې چه زمونږ دوستانه علایق او ښه مناسبات زمونږ له دوست اوګاونډی هیوادسره ټینګوی په علمي او عرفاني لحاظ هم ډېرې ګټې پکښې شته .

هغه هیواد چه دساینس او تخنیك په لاره کښې له نورونه ډېر وړاندې دی او دنوو اختراعاتو او اکتشافاتو په وسیله ئې دنیا حیرانه کړې ده ژبه یې هم په علمي ساحه کښې ورځ په ورځ ترقي کوی او ټول پیشرفتونه پکښې منعکس کیږی . که یوملت دخپلو لوړو اوګړندیو پروازونو په وسیله دهسك خواته له نورونه مخکښې کیږی او خپل تفوق ثابتوی نو ژبه یې هم دذهن او فکر دانکشاف اولوړوالی په اندازه ترقي کوی . هو ژبه دخلقو دذهن اودماغ، دفکر او پوهې د کار او عمل انعکاسات او اغیزې ثبتوی او څومره چه د چاپو هه او علم زیاتیږی ژبه یې هم په همماغه اندازه علم او پوهې ظرفیت پیدا کوی په همدغه وجه ویلی شو چه روسي ژبه به په اینده کښې خپل علمي او معنوی حیثیت نورهم ډېر زیات کړی او دجهان توجه به نوره هم ځانته جلب کاندې.

که مونږ دحیاتي ـ اجتماعي او علمي ضرورت له مخې په یوه دقیق او عمیق نظر وړ اندې وروسته وګورو نو په اوس وخت کښې دروسي ژبې زده کولو ته ډېر ضرورت موجود دی. او مونږ ته په کار دی چه له خپل دوست او ګاونډی هیواد سره دپوهیدلو راپو هولو وسیله تقویه کړو دهمدغسې ملاحظاتو په وجه زه دغه درسي کتاب ته داهمیت او اعتناء په نظر ګورم

اومؤ ثر یې ګڼم .

په‌دې کتاب کښې د لغاتو کافی ذخیره موجوده ده‌چه په‌محاوره اوخبرو اترو کښې ډېره په کاریږی اوله اسانتیانهٔ په‌تدریج سره دمشکل خواته ځی په همدغه وجه د درس مشکلات‌داسې حل‌شوی‌دی‌چه‌یو درس د بل‌درس په‌زده کړه کښې‌ډېره مرسته کوی .

ګرامر هم‌په‌درسونو کښې ښه حل شوی اوله‌درسونو سره‌متناسب‌دی‌ځو مره‌چه امکان لری هغو مره دپښتو او روسی ژبې مقایسوی خوا هم‌په نظر کښې نیول شوې ده او کتاب په‌ډېر دقت لیکل شوی دی .

که‌دا کتاب زده کوونکی له‌ښوونکی‌څخه بیخی‌نشی بی‌نیازه کولی نو احتیاج خوبې ډېر کموی .

دا کتاب ۷۳درسونه لری‌اودلو ستلو دپاره یې‌یو کال وخت ټاکل شوی دی‌مګر که لوستونکی ښه‌زیارو کاږې نوپه‌شپږو میاشتو کښې‌یې خلاصولی اودومره روسی‌زده کولی شی‌چه سربیره د ورځنی ژوند د کارو باراو چال چلند په‌اجراء کولو خپل‌افکار او خیالات هم په ژبه او قلم په‌روسی ژ به څرګند کړی .



م ـ ا ـ سلیمی

جلال کوټ ۱۵ - ۱۰ - ۱۳٤۰

ملګرو! څه ومه او څه مې بولیء؟

دځوانیمر ګې مور له غیږې ځنې وم لا ما شوم چه نیمه خوا ولویدم
هم د غریب ا با له څنګه ځنې په هغه خوا ا و د غه خوا ولویدم
د کلی کور ـ خپلو خپلوانو ځنې په غرور غو او په بید یا ولویدم
زړې جامې ، په ګیډه وږی، تږی کلی په کلی په صحرا ولویدم

دتور او سپین په زده کولو پسې
دحقیقت په لټولو پسې
په جماتونو کښې په خاورو پروت وم
ملګرو ! څه ومه او څه مې بولیء ؟

کتاب کاغذ اومشوانۍ مې په سوال دومره غریب چه وم قلم ته قلم
بر بنډه ور ځ مې د لید لو نه وه دډیرې لوږې نه به توت ته ختم
خوراک پوښاک هم مې تعلیم وپه سوال ملالا څه ـ چه یې له غوا جاریدم
ځما خواری پورې خواری بهٔ خندل تودې ډوډۍ ته به له وراپسخیدم

ومه خومې خو په تکل د ژوندون
د غه وحال ځما دژوند دپرون
بارې نو کر شوم ځما حال شو بدل
ملګرو ! څه ومه او څه مې بو لی ؟

شوم خو نو کرولې نو- کر (۱) نه شوم غافل له قام او له تبر نه شوم
د یتیما نو مې ژړا او ر پده د خوار له حا له نا خبر نه شوم
د مظلو ما نـو په ژړا ژ ړ یـدم په پښتنی غم کور او کر نه شوم
نه شوم ((میرزا)) شومه لیکوال غوندې د ښادی زیری شو مه شر نه شوم

قلم مې تل دقام په غم ژړیده
زړه کښې مې تل د پښتون غم تاویده
په نو کری کښې هم خادم شوم دقام
ملګرو ! څه و مه او څه مې بولیء ؟

ما اباسیند سیند د پښتون باله او په آ مو مې یې تړ و ن باله
مالر او بر پښتون- پښتون باله دټول پښتون« تون »مې یو« تون» باله
د پښتیا نا اسمان مې یو بللو یو مې د قام مرګ او ژو ندون باله
ماوې دقام ژو ندون کښې ژو ندی ځما خپل مر ګ مې مر ګ کښې د پښتون باله

ماوې چه مړ شی څوك په ننګ د پښتون
مړ نه دی تل یې مبارك شه ژوندون
ما پښور او هرات یو به بلل
ملګرو ! څه ومه او څه مې بولیء ؟

ما د کسی غرونو کښې ډیرو د نګل ما د سپین غره تړو کښې شپې کړې رنا
ما په تیرا کښې پښې تنا کې کړلې ما د ایمل سیمه کښې و کړ ه ژ ړا
ماته که هر پښتون ناخوا له ووې خو ماوې «جان !د زړګی سره ځما»
ما داؤ دی نغمه کړه غبر ګه ځکه دې کښې دی زیری د پښتون د سبا

ما خو پښتو انسانیت باله
پښتو نولی مې شرافت باله
او هم په دې انسانیت شوم لوګی
ملګرو ! څه ومه او څه مې بولی ؟

(۱) نو - کر - اعنی نوی کوڼ

ماوې سپرغۍ یمه سکروټه به شم
کړم به ستی د پښتنو غلیمان
ما دا ولا د غریبی هیره کړله
د لوی ا فغان په تمنا و م روان
ما د پښتون مشر په پل و دنګل
داسې دنګل چه هیڅ پوه نه شوم په ځان
ماد هغه په مینه هرڅه کړه هیر
خو بس همدی و ،اوو، یولوی افغان
ماته هغه و د افغان ژو ندون
ما ته هغه ود پښتو سبا وو ن
ما دغه مینه خپل ایمان جوړه کړه
ملګرو ! څه ومه او څه مې بولیء ؟

ماوې غوټۍ به د ارزو مې شی ګل
خو خبر نه وم د خزان له جفا
ځما نه خو هیرو و د پښتون په مینه
د زمانې ځو ل او سیلی ا و تنها
ځما نه شو هیر چه مې «قدرت »هیر کړی
هیر مې تقدیر شود تقدیر شوم فدا
ماوې تقدیر به مې ملګری و ی تل
ګورم تقدیر بدل تد بیر کړ ځما
دزمانې سیلاب ایسار کړم ورونو
داسې ایسار چه یې ګذ ار کړم ورونو
د ژوند په تمه په ژوندون شوم پکو
نو! ! !
ملګرو! څه ومه او څه می بولیء ؟

نوی شعر

س ۱، هېر

خیال

دتنها یی تشه دنیا کښې ،
خیالی جهان تشه صحرا کښې ،
چول او بېدیا کښې ،
هلته څوك نه وو ،
صرف زه او ته وو ،
نه- نه ته نه وې زه یواځې ومه،
دستا خوږ وخیالو سره زه لو بیدم - لو بیدم.
دماشومانو په څیر حال ؤ ،
معصوم له هر خیانته خیال ؤ ،
خیا لی جما ل ؤ ،
زما دپاره،
پټ له اغیاره،
څه ښه گوښه وه غمازان نه وو ،
دخیال جهان کښې تاسره زه غږیدم غږیدم.
کله پیدا به انتظار شو ،
خپل کرارزړه به مې اغیارشو ،
نوی به کارشو ،
زړه به مې ته غوښتلې ،
مابه ورو- ورو ویلې !
زړه مې ماشوم شوراته ژاړی،
دصبر ټال کښې به ئې زه اوس زنگـوم
زنگوم .

بیا به مې نوی سردو باره،
خیالی جهان جوړ کړ لو یاره،
بی له زیباره،
زړه مې په چل غولاوه ،
خیال مې په دې لو باوه ،
چه زړه توتی شوراته شور کړی،
ورته به کوم باغ کې گلونه لټوم-لټوم.
غم دې له تانه وفادارؤ ،
حاضر به تل بې له ریبارؤ ،
تل به تیارو،
دتصور خو ب کښې ،
یواځې توب کې ،
ستاوفادار غم راسره دی تل دپاره ،
ځکه به زړه مې ستا په خیال تل صبروم-صبروم
داسې څوك نه کړې گرانه ،
ماته له ځان اوله جهانه ،
له هر هر چانه،
ته دزړه سرشوې ،
زړه اوځیگرشوې،
ماته له ځانه یـې لاتېر تازه هېر کړی یمه،
ځکه په سوونا روتازه خبروم- خبروم

موږ د کابل مجلې په ۵۰۷ ګڼه کښې د ښاغلی مولانا خادم یوخوږ اوخوند ورشعر د کابل سیند ترعنوان لاندې ولوسته او ډېرموخوښ شو.
زهٔ هم غواړم چه ددې عنوان لاندې دشعر دځینې خواوو دتکمیل په غرض یوڅه ګرانولوستونکوته وړاندې کړم «بشار»

اې د کابل سینده!

پښتنوته افتخار یې چه راځې له هسکو غرونو
دقوت او د لوړ والی له مقامه په ټوپونو

جوړه ښکلې نمونه د پښتنی عظمت او شان یې
دپغمان دغروله څوکوچه راځې په غور ځنګونو

داونی له درې تا کړ فیض را کښته مخ پرځوړی
دافغان دملك په زړه کښې راروان یې په خوندونو

دقدرت اولویې نښې دې قدم قدم کښې ښکاری
دحال ژبه دې ګویاده ستاهرموج ډك له درسونو

اتحاد او اتفاق د ژوندانه ښکلی اساس دی
تا ښودلی دا اساس دی اتحاد کښې د رودونو

ستاتشکیل له څاڅکی څاڅکی نه بنادی ښکلی سینده!
هرنظر د بصیرت ته کارخانه یې د رازونو

تایونوی ارمغان د ژوندانه راوړی موږ ته
هره خواشته حرکت د ترقی او نهضتونو

قسم قسم کارخانې او فابریکې پرتا جوړ یږی
ستارڼابه مونږه خلاص کړی له تیارواو ظلمتونو

شی د خپل وطن محصول به مولباس زینت دغاړې
خلاص به مونږ شو که خدای کاندی دپردوله منتونو

سلګی غلې دخواری شوې مایوسی شوې بیخی ورکې
وچې شاړې د وطن چه بد لوې په شنو فصلونو

وخت د کار او د عمل دې په دې سیمه دی راوستی
هر زلمی د وطن بو خت دی شپه او ورځې په کارونو

د کابل د تاریخ کرښې دی د ستاد ساحل نقش
مجموعه یې حقیقت کښې دپښتون د تاریخونو

لاتراوسه زموږ هیلې په څپو کښې ستا لوبېږی
امید شته چه به څراغ شی بل زموږ د امید ونو

د اوطن د ې تل مدام وی په او بود ستا شادابه
د «بشار» د زړه آرزوده بس همدغه د عمرونو

دعبد الغفار بریالی له اشعارو څخه

دم-ولی جان «هوتك» انتخاب

چتې سترګې

چه تش تېر شمه پر څنګ د چتو سترګو

تور فرنګ شمه په رنګ د چتو سترګو

و با ز ا رته سر بهر ا پستلای نه شم

کوزو پا س او ری خد نګ د چتوسترګو

د سا غر شرا ب نا و ړ ر ا معلو میږ ی

چه نشه شو مه په بنګ د چتو ستر ګو

په تو به مې هېڅ پر هېز و ر څخه نه شی

زه بې ننګه کړ مه ننګ د چتو ستر ګو

په با زو کښې مې ا مکان د فتحی نشته

تښتولی یم زه جنګ د چتو ستر ګو

د ځګر پر آ ینه مې لا ز یا تیږ ی

د تقوا پر صیفل ز نګ د چتو سترګو

ز ړ ه ښیښه د « بر یا لی» له لا سه و لا ړ ه

ر ېز مر ېز شوه پر خدنګ د چتو سترګو

داشتراک بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰

د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶

زده کوونکو ته نیمه بیه :

۱- کابل ۲۰

۲- اطراف ۲۳

د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالره

دیوې کښې بیه : ۴

د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږي

د پښتو ټولنې د جاری حساب نمبر په افغانستان بانک

او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷

د اشتراک بیه په ادارد کښې هم اخېستل کېږي

پته

شیر علي خان واټ نوی ښار

کابل ـ افغانستان

د پښتو ټولنې د رئیس

د تلیفون نمبر ۲۰۳۵۰

د کابل مجلې د تلیفون نمبر ۲۱۲۹۱

KABUL

Monthly Journal of the

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy,

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M.Sidiq Rohi

Coaditor : M.Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه